مؤسس: عبدالرووف بېنوا تأسيس کال: ۱۳۲۸ لمريز

ورځپاڼه

هېواد

پنجشنبه | ۱ / صفرالمظفر / ۱۴۴۸ هـ ق | ۲۵ / چنګابښ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/16 م | خصوصي ګڼه: ۸۷ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۵۸ مه | دوره: اتمه

د قطر د پخواني امير مړينه؛

مولوي اميرخان متقي د اسلامي امارت د خواخوږۍ پيغام د قطر امير ته وړاندې کړ

د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي او مل پلاوي د چهارشنبې په ورځ په دوحه کې د قطر دولت پخواني امير، شيخ حمد بن خليفه آل ثاني د مړينې له امله د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د قطر دولت امير، شيخ تميم بن حمد آل ثاني ته د خواخوږۍ او ډاډګېرنې مراتب وړاندې کړل.

بهرنيو چارو وزارت وايي، چې مولوي امير خان متقي د قطر دولت د وزيرانو شورا له رئيس او د بهرنيو چارو له وزير، شيخ محمد بن عبدالرحمن آل ثاني، د وزيرانو شورا مرستيال او د دفاع وزير شيخ سعود بن عبدالرحمن بن حسن آل‌ثاني او همدارنګه د بهرنيو چارو وزارت کې د دولت وزير، ډاکټر محمد بن عبدالعزيز الخليفي سره هم ليدنه کړې او د شيخ حمد بن خليفه آل ثاني د مړينې له امله يې هغوی ته د خواخوږۍ، تسليت او ډاډګېرنې مراتب وړاندې کړې دي.

قزاقستان له افغانستان او قرغزستان سره د معدني اومه توکو د برابرولو هوکړې لاسليک کړي

د قزاقستان د صنعت او ودانيزو چارو وزير يرسعين ناکاسپايوف ويلي، هېواد يې د فلزي صنعت او د فلزاتو د ويلې کولو فابريکو لپاره د اومه توکو د برابرولو په موخه له افغانستان او قرغزستان سره هوکړې کړې دي. نومورې ويلي، د قزاقستان د توليدي سکتور وده د روان کال په لومړۍ نيمايي کې ۹.۸ سلنې ته رسېدلې ده.ناکاسپايوف زياته کړې، د مسو، جستو او سرو زرو د اومه توکو عرضه زياته شوې او له افغانستان او قرغزستان څخه د معدني توکو د واردولو لپاره عملي کامونه اخيستل شوي دي. د ده په وينا: د دغو هوکړو موخه د قزاقستان د صنعتي فابريکو لپاره د اومه موادو . . .

۷ مخ

له هراته عراق ته د توليدي جامو دويمه صادراتي جوپه ولېږدول شوه

د هرات د جامو توليدوونکو ټولنې مسؤلين وايي، چې په دغه ولايت کې د توليد شويو جامو دويمه صادراتي جوپه عراق ته ولېږدول شوه.

د يادې ټولنې رئيس عزيزالله نورزي وايي ، چې په دې جوپه کې شاوخوا ۸۰ زره جوړې جامې شاملې دي او ارزښت يې نږدې ۳۰۰ زره امريکايي ډالرو ته رسېږي.

د نومورې په وينا، په دې صادراتي جوپه کې نږدې ۱۰۰ بېلابېل دوله جامې شاملې دي او د هرات توليدوونکي د بېلابېلو دولونو جامو د توليد او له بهرنيو محصولاتو سره د سيالي وړتيا لري.

ده زياته کړه، تاکل شوې چې په نږدې راتلونکي کې د ۲۰۰ زره جوړو جامو بله صادراتي جوپه هم عراق ته ولېږدول شي.په همدې حال کې د هرات د کسبه‌کارانو خونې رئيس عبدالقدير اکبري وايي، چې په دغه ولايت کې د جامو شاوخوا زر توليدي کارخونې فعاليت لري او په هره کارخونه کې له ۵۰ څخه زيات کسان پر کار بوخت دي.

د نومورې په وينا: د هرات د توليداتو لوړ کيفيت د دې لامل شوی، چې بهرنيو سوداګرو له سيمه‌ييزو توليدوونکو سره د صادراتو ترونونه لاسليک کړي . . .

۷ مخ

سرليکنه

معيار؛ د افغان توليداتو د نړيوال باور لپاره مهم دی

په ننني نړۍ کې د توليد زياتوالی مهم دی، خو د کيفيت او معيار ارزښت تر هغه هم لوړ دی. هغه هېوادونه چې خپل توليدات د نړيوالو معيارونو له مخې بازار ته وړاندې کوي، د صادراتو پراخ بازارونه پيدا کوي، د مصرفوونکو باور ترلاسه کوي او د اقتصاد بنسټونه يې لا پياوړي کېږي. له همدې امله د معيارونو پلي کول د هر پرمختللي اقتصاد يوه اساسي ارتيا ده چې اوس افغانستان هم په همدې لاره عملي کامونه اخلي.د معيار او کيفيت اداري د معلوماتو له مخې، د دې اداري عمومي رييس ملا عبدالله بشير په کابل کې د ايران له سفير علي‌رضا بېکدلي سره کتلي او د سوداګريزو اړيکو، تخصصي همکاريو او د معيارونو د پراختيا په اړه يې خبرې کړې دي. دواړو لوريو د رغنده تعامل پر دوام، د تخنيکي همکاريو پر پراختيا او د شته ظرفيتونو پر اغېزمنې ګټې اخيستنې ټينګار کړی دی. د ايران لوري هم چمتووالی ښودلی چې د معيارونو، معياري کولو او تخنيکي تجربو په برخه کې له افغانستان سره همکاري وکړي.افغانستان نن د توليد او صادراتو ترڅنګ د کيفيت او معيار موضوع ته هم جدي پاملرنه کوي. دا د اقتصادي پخوالي څرګنده نښه ده. هر هغه محصول چې د نړيوالو معيارونو له مخې توليد شي، د نړيوالو بازارونو د منلو چانس يې لوړېږي، د سوداګرو باور ورسره زياتېږي او د هېواد صادراتو ته نوې دروازې پرانيستل کېږي. د صادراتو او وارداتو معياري کول د سوداګرۍ بهير منظموي، د بازار کيفيت لوړوي او د خلکو روغتيا خوندي کوي. کله چې معياري توکي بازار ته وړاندې کېږي، د مصرفوونکو باور هم پياوړی کېږي او افغان توليدات په نړيوالو بازارونو کې په نښه نوم پېژندل کېږي. همدا چاره د کورنيو صنعتونو د ودې لپاره هم مهمه زمينه برابروي.اسلامي امارت په وروستيو کلونو کې د صنعت، سوداګرۍ او کورنيو توليداتو د پياوړتيا لپاره پرله‌پسې هڅې کړې دي. د ملي او نړيوالو نندارتونونو جوړول، د اقتصادي هوکړو لاسليک، د پانګونې لپاره د اسانتياوو برابرول او اوس د کيفيت او معيار په برخه کې د تخصصي همکاريو پراخېدل، ټول د يوې منظمې اقتصادي تګلارې برخه ده. د دې اقداماتو موخه دا ده چې افغان توليدات يوازې د هېواد ارتياوې پوره نه کړي، بلکې په نړيوالو بازارونو کې هم د سيالۍ وړتيا پيدا کړي.له ايران سره د معيارونو په برخه کې د همکاريو پراخېدل د دواړو هېوادونو لپاره ګټور اقدام دی. د تخنيکي تجربو تبادله، د متخصصينو روزنه او د معياري کولو نوې طريقې به د افغانستان د کيفيت نظام لا پياوړی کړي. دا بهير د سوداګرو لپاره نوي فرصتونه رامنځته کوي، د صادراتو کچه لوړوي او د اقتصادي اړيکو د پراختيا لاره نوره هم هواروي.افغانستان د اقتصادي ځان‌بسيا پر لور په ثابتو ګامونو روان دی. د صنعت وده، د توليد زياتوالی او د کيفيت لوړ معيارونه به د هېواد اقتصادي اعتبار لا پياوړی کړي. ان‌شاءالله هره نوې همکاري، هره نوې تجربه او هر معياري محصول به د افغانستان نوم په نړيوالو بازارونو کې لا روښانه کړي او د هېواد د اقتصادي پرمختګ سفر به نور هم چټک کړي.

د لوړو زده کړو وزير د افغانستان په کچه د سرطاني ناروغيو د ستر جامع مرکز له چارو ليدنه او ارزونه وکړه

شيخ صاحب د کابل طبي علومو پوهنتون اړوند د علي اباد تدريسي روغتون د ياد مرکز څخه د ليدنې پر مهال اړوندو مسؤولينو ته خانګړې سپارښتنې او هدايات وکړل او د سرطاني مرکز د پاتې چارو په غوره بشپړېدو يې ټينګار وکړ.

محترم شيخ صاحب همدارنګه د علي اباد تدريسي روغتون مسؤلينو او داکترانو ته وويل چې زموږ خلک معياري روغتيايي خدمتونو ته اړتيا لري او د دې روغتون په جوړېدو سره به سرطاني ناروغانو ته د درملنې اسانتياوې رامنځ ته شي او ناروغ وکړي به د نورو ملکونو ته د تک له احتياج څخه خلاص شي. دغه راز محصلانو، او ترينې ډاکترانو ته به د لا نبه عملي کار او ظرفيت لوړونې زمينه هم برابره شي.

د دغه مرکز په ودانۍ (۴۱۷) ميليونه افغانۍ لګښت راغلی، چې چارې يې بشپړې شوې، همدا راز دويمه برخه د ياد مرکز د وسايلو تجهيز ده چې پکې زيات پرمختګ شوی دی او د عالیقدرامیرالمؤمنین حفظه الله تعالی ورعاه له لوري ورته (۹۶۴) ميليونه افغانۍ منظورې شوې دي، چې د راډيولوژي او انکلوژي برخې طبي تجهيزاتو قراردادي . . .

۷ مخ

د کندز په بند خونه کې د دوه پروژو چارې پيل شوې

د کندز د بند خونې مسؤلين وايي، چې د بنديانو لپاره د اسانتياوو برابرولو په موخه يې د دوو پراختيايي پروژو د پلي کولو چارې پيل کړې دي.

د يادې بند خونې د مالي او اداري چارو امر مولوي احسان الله غازي باخبراطلاعاتي اژانس ته ويلي، چې په دغو پروژو کې د بنديانو خصوصي ملاقات خونو جوړول او بيارغول او يوې سپټيک ځاه جوړول . . .

۷ مخ

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معين د ميدان وردګو له مجاهد عمومي موزيم څخه ليدنه وکړه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معين مهاجر فراهي، د يادوزارت د نشراتي پاليسي سلاکار، مولوي عبدالحق حماد، او مل پلاوي د ميدان وردګو له مجاهد عمومي موزيم څخه ليدنه وکړه. ښاغلي مهاجر فراهي د مجاهد عمومي موزيم جوړول يوه مهمه لاسته راوړنه وبلله او ويې ويل، چې دا موزيم له اشغال وروسته جوړ شوی او د راتلونکو نسلونو لپاره خانګړی اهميت لري، څو د هېواد له معاصر تاريخ او تېرو پېښو څخه خبر شي. نومورې د ميدان وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ له رئيس څخه مننه وکړه، چې د هېواد د شل کلنې مبارزې او د بهرني اشغال پر وړاندې د مبارزې د تاريخي اثارو د ساتنې لپاره يې دغه موزيم جوړ کړی دی.

ورته مهال مولوي عبدالحق حماد ووېل، چې په يوه پېړۍ کې د درېيو سترو امپراتوريو پر وړاندې د افغانانو مبارزه د هېواد د تاريخ مهمه برخه ده. ده زياته کړه، د دغه موزيم له لارې به راتلونکي نسلونه د شل . . .

۷ مخ

په اوو ولايتونو کې د ۱۱ مخابراتي سايټونو جوړولو ټرون لاسليک شو

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجي وزارت وايي، د هېواد په لرو پرتو او محرومو سيمو کې د مخابراتي او انټرنېټي خدمتونو د پراختيا په موخه يې د ۱.۱ ميليون امريکايي ډالرو په ارزښت له درېيو مخابراتي شرکتونو سره په اوو ولايتونو کې د ۱۱ مخابراتي سايټونو جوړولو ټرون لاسليک کړی دی.د دغه وزارت د خبرپانې له مخې، ياد سايټونه د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظيم اداري (اترا) د مخابراتي . . .

۷ مخ

ايران د معيار او کيفيت اداري رئيس ته د رسمي سفر بلنه ورکړه

په کابل کې د ايران سرپرست سفير، علي‌رضا بېکدلي د معيار او کيفيت اداري له عمومي رئيس، ملا عبدالله حاجي بشير سره په کتنه کې د دوه‌اړخيزو همکاريو د پياوړتيا او تخنيکي او اقتصادي تعاملاتو د پراختيا په اړه خبرې کړې دي.

د خبرپانې له مخې، په دې کتنه کې ټينګار شوی چې د دواړو هېوادونو د سوداګرو له لوري د معيارونو رعايتول د توکو کيفيت لوړولو کې مرسته کوي او د خلکو د روغتيا، حقونو او عامه کتو په ساتنه کې مهم رول لوبوي.

په دې کتنه کې د ايران سفير د اسلامي امارت معيار او کيفيت اداري عمومي رئيس ته د ايران د سفر بلنه ورکړې او ترې غوښتل شوي چې د ايران ستندرډ اداري له اړوندو برخو دې ليدنه وکړي. د معيار او کيفيت اداري دا کتنه د دوستانه اړيکو ټينګښت، د تخنيکي همکاريو پراختيا، د افغانستان او ايران ترمنځ د اقتصادي مناسباتو پراختيا لپاره اغېزمن ګام ګڼل بللی دی.

پروان کې د څښاک پاکو اوبو ۱۴ شبکې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې

د پروان په څلورو ولسوالیو کې د نړيوال بانک په مالي ملاتړ او د اغاخان مؤسسې په همکارۍ د څښاک پاکو اوبو ۱۴ شبکې د ۴۹ ميليونه ۴۰۰ زره افغانيو په لګښت جوړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

په جوړو شويو مراسمو کې د پروان والي شيخ عزيزالرحمن منصور وويل، چې د هېواد په بېلابېلو سيمو کې د پراختيايي پروژو پلي کېدل د خلکو د ژوند ښه کېدو او عامه خدمتونو د پراختيا لپاره مهم ګام دی او د څښاک پاکو اوبو د دغو شبکو پرانيستې يې د روانو رغنيزو هڅو خرګنده بېلګه وبلله.

ورته مهال د آغاخان مؤسسې د مرکزي زون رئيس حبيب حسين عاقل باختر اطلاعاتي آژانس ته ويلي، چې دا مؤسسه په پروان کې د ۸۲ ميليونه افغانيو په لګښت ۲۲ پراختيايي پروژې پلي کوي، چې له دلې يې د څښاک پاکو اوبو ۱۴ شبکې د ۴۹ ميليونه ۴۰۰ زره افغانيو په لګښت . . .

۷ مخ

د رسول الله صلی الله علیه وسلم اداري او سیاسي ستراتېژي

مفتي نورالله عزام ـ پنځه ویشتمه برخه

د نبوي دولت د نظامي چارو اداره (اسلامي پوځ)

ج: لوژستیک خدمات وړاندې کول

د نبوي اداري یو مهم کار دا و چې مجاهدینو ته یې لوژستیکي مرستې او خدمات وړاندې کول، رسول الله صلی الله علیه وسلم په منظمه او فعاله توګه دغه چارې پرمخ وړلې، مجاهدینو ته د لباس موندلو لپاره یې مختلفې لارې په کار اچولې، یا به یې د سولې له لارې لباس ورته چمتو کړ او یا به یې له خپلو والیانو مجاهدینو ته د لباس غوښتنه کوله، د نجران په ټرون کې دا وو چې نجرانیان به دوه زره جوړه کالي مسلمانانو ته ورکوي، زر جوړه د صفرالمظفر په میاشت کې او زر جوړه د رجب المرجب په میاشت کې، دغه راز په یمن کې معاذ بن جبل رضی الله عنه ته یې لیک لیږلی و چې له کافرانو دې جزیه واخلي او یا دې د جزیې معادل لباس ترې واخلي او کله کله به له دښمن څخه هم لباس غنیمت شو.

د مجاهدینو خواړه به هم له مختلفو لارو تر لاسه کېدل، د دوی عمومي خواړه به خرما او د غنمو او وربشو څخه جوړ مغزې خواړه وو، کله کله به غوښه هم پیدا کېدله، مجاهدینو به په خپلو بارونو کې له ځان سره خواړه وړل او زیاتره وخت به یې خواړه د تبرعاتو له لارې ترلاسه کول، شتمنو مسلمانانو به نېستمنو ته خواړه چمتو کول، د بنې نضیر د محاصرې پر وخت سعد بن عباده مسلمانانو ته خرماوې ورکولې او د حمراء الاسد په غزا کې یې مسلمانانو ته اوښان حلال کړل . د خواړو اساسي ستونزه په غنیمت سره حل کېدله، هر مجاهد مسؤلیت درلود د ځان او خپلې سپرلۍ خواړه اماده کړي؛ نو ځکه به هر جنګیالي ته اجازه ورکول کېدله چې د غنیمت له مال څخه د ځان او خپلې سپرلۍ خواړه واخلي. ځینو اشخاصو چې ځانګړي مهارتونه یې لرل، جګړو ته له تلو مخکې لاري سمولې، پلونه یې ترمیم او جوړول او یا به یې خندقونه کندل یا ورانول او پخپله مجاهدینو به کارونه کول. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دولت کې به ټولو نظامي مسؤلینو په ښه توګه خپلې چارې پر مخ وړلې، نبوي اداري ډېر حرص درلود چې مسلمانانو ته په هر ډول حالاتو کې خدمات ورسوي، اداري تنظیم، تدقیق او مهمو چارو ته یې ځانګړې پاملرنه کوله.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به کوشش کاوه له جګړې مخکې د جګړې ټول وسائل چمتو کړي ځو په سخت حالت کې بند پاتې نه شي، د درنو وسلو د زده کړې لپاره یې هم مجاهدین تیارول، عروة بن مسعود او غیلان بن سلمه یې «جُرش» ته چې په اوسني اردن کې د روم امپراتورۍ ښار و ولیږل ځو هلته منجنیقونه، عرادې او نوري ثقیله وسلې زده کړې او دا د هغه وخت تر ټولو مهمې او درنې وسلې وې .

د: د ترصد ځواک ګومارل

رسول الله صلی الله علیه وسلم به هرې ځمکې ته په کتو د ترصد لپاره ځانګړي کسان ټاکل، هغو ته به یې دنده ورکړه چې د جګړې له پیل مخکې د جګړې د ډګر او د ځمکې د طبعي وضعیت په اړه معلومات ترلاسه کړي او له مشرتابه سره یې شریک کړي، د احد په جګړه کې یې دا دنده ابوخیثمه الحارثي ته سپارلې وه، په حمراء الاسد غزا کې یې ثابت بن قیس ته دنده ورکړې وه، د خیبر په غزا کې یې حسیل بن نویره الاشجعي ټاکلی و، په تبوک کې یې علقمه الخزاعي ټاکلی و چې دوی هر یوه ته به یې دلیل او ډېرو ته «الأَدلّاء» ویل . دغه ګروپ د معلوماتو په راټولولو کې ډېره ونډه لرله، دوی به پوځ ته د جګړې لپاره ځای ځانګړی کاوه، د پوځ مسیر یې ټاکه. د مثال په توګه رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیبیې ته پر لار و، خبر ورته راغی چې د قریشو مشران راټول شوي او د مسلمانانو پر ضد د جګړې پلان جوړوي، سمدلاسه یې صحابوو ته وویل: «مَن رَجُلٍ يخرُج بنا عَن طَرِيقٍ غَير طَرِيقِهِم التي هُم بِهَا» . (داسې سړی شته چې مونږ د دوی د لارې پرته پر بله لار مناسب ځای ته وباسي). بیا د بنو اسلم یو تن ولاړ شو، ویې ویل: یارسول الله! زه بلد یم او پر بله لاره مو باسم. رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله کله له دښمن څخه هم استفاده کوله، د هغوی له لارې به یې د دښمن پلانونه ځان ته معلومول او په عوض کې به یې هغوی ته څه ناڅه ګټه رسوله. د خیبر په غزا کې یې حسیل بن نویرة الاشجعي ته دنده وسپارله چې د خیبر په اړه معلومات راوړي او د دې کار په عوض کې یې هغه ته شل پیمانې خرماوې ورکړې . دغه راز په نورو مواردو کې یې هم له مختلفو خلکو استفاده کړې او د پام ځان ته واړوي. کله چې په یوه ټولنه کې د سوالګرو او محتاجو کچه راټیټه شي، د کار زمینه برابره شي، او د اسلامي پوهې ترڅنګ د معاصرو علومو او ټیکنالوژۍ په رڼا کې د هیواد د ځوانانو استعدادونه وځلیږي، نو نړیواله ټولنه به په خپله اعتراف وکړي چې اسلامي نظام د پرمختګ او مدنیت تر ټولو غوره ضامن دی.

۳ـ د یوه باوقاره او مستقل بهرني سیاست تمثیل: یو نړیوال ماډل نظام باید د پردیو له فکري، سیاسي او اقتصادي اسارت څخه بشپړ پاک وي. اسلامي امارت د خپلو ملي او اسلامي ګټو پر بنسټ داسې متوازن او قوي تعامل ته اړتیا لري چې په هغه کې د اسلامي امت د داعیې ملاتړ د ډیپلوماسۍ په لومړیتوبونو کې وي. کله چې نړۍ وګوري چې دا نظام د زبرځواکونو د فشارونو په وړاندې د خپلو اصولو معامله نه کوي، مګر په عین وخت کې له نړۍ سره د عقلانیت، سولې او دوه اړخیزه درناوي پر بنسټ چلند کوي، نو د نړۍ مسلمانان به ورته د خپل معنوي تکیه ګاه په توګه وګوري.

۴ـ د ټولنې د پرمختګ بهساری اندول وړاندې کول: په نړۍ کې نظامونو د ټولنې د پرمختګ او دینې/اخلاقي اصولو ترمنځ د تعادل اندول ورک کړی دی. ځینې نظامونه دي چې ټکنالوژیک پرمختګ ته یې توجه کړې، خو په اخلاقي لحاظ یې ټولنې بلکل له سقوط سره مخ کړې دي، د هغو نظامونو برعکس د اسلام مبارک دین سیاسي نظام هغه نظام دی چې د معاصر چټک ټکنالوژیک پرمختګ ترڅنګ یې ددیني او اخلاقي اصولو د ساتنې هڅه هم مسلمانانو ته ښودلی دی. په همدې اساس ویلی شو چې د اسلام د سیاسي نظام په واقعي تطبیق او پلي کېدو سره مونږ کولای شو چې نړۍ په ډېره لږه موده کې یو داسې پرمختللی نظام وړاندې کړو چې له ټکنالوژیک پرمختګ سره سره یې خپل دیني او اخلاقي بعد هم تر لوړ حد پورې ساتلی وي.

۵ـ له حکمت او مصلحت څخه عدالت او اصولو ته ترجیح ورکول: اسلامي امارت او سمهال د ځینو شرایطو لمخې په ځینو مسایلو کې حکمت ته ترجیح ورکوي، خو کله کله حکمت او مصلحت د فساد لپاره زمنیه سازي هم کولای شي په همدې اساس که مونږ وغواړو چې د نړۍ لپاره یوه واقعي اسوه حسنه نظام جوړ کړو نو باید عدالت ته په حکمت او مصلحت ترجیح ورکړو.

۶ـ د دیني او عصري علومو نصاب یو ځای کول: د اسلام مبارک دین په اوایلو کې د علومو ویش نه وو، د نبي کریم ﷺ په دور کې د عصري او دیني علومو وېش نه وو، هغه مهال به چې هرچا هر علم زده کاوو هدف به یې د الله ﷻ رضا حاصلول وو، که به چا جنګي فنون او ټکنالوژی زده کوله یا هم د کفارو ژبې او لیک لوست د ټولو هدف د اسلام مبارک دین پرمختګ وو. مګر اوسمهال مونږ علوم په دوه برخه وېشلي چې عصري علوم خلک د دونیا لاسته راوړلو لپاره زده کوي دیني علوم د دین د پرمختګ لپاره، دغه وېشنه ددې باعث شوې چې اسلامي نړۍ تر ټولو شاته پاتې حالت ته ورسیږي. نو دد غو مشکلاتو د حل لپاره باید دیني او عصري نصاب دښمن له حالاتو یې ځان خبر کړی دی.

په جګړییزو چارو کې بله د «حاشر» دنده وه، دا هغه څوک و چې د پوځ لوری به یې ټاکه، عملیاتي طرحه یې وړاندې کوله او پوځ ته به یې لارښوونې کولې، څو یې د جګړې ډګر ته ورسوي، دا ډېره مهمه دنده وه او هدف یې دا و چې له جګړې مخکې پوځ د جګړې ډګر ته مرش کړي، پر پوځ نظارت وکړي که څوک مخکې او وروسته وي د هغو سهې لارښوونه وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم به په ځینو غزواتو کې پخپله د حاشر دنده پرمخ وړله، چې د جګړې قومنده ورته ویلی شو، نبي علیه السلام به د جګړې د پیل پر وخت کله له پوځ څخه مخکې او کله وروسته شو څو پوځ وګوري تکړه پوځیانو ته شاباسي ورکړي او له کمزورو سره مرسته او لارښوونه یې وکړي.

د اسلامي امارت نړیوال رسالت؛ د اسلامي امت په تاج کې د امېدونو ملغلرې

مستغفر الحنفي

کله چې په ۲۱مه پېړۍ کې د سیاست او واکمنۍ مډرن نظریات له سخت فکري او اخلاقي انحطاط سره مخ شول، د افغانستان د دنګو غرو له څوکو څخه یو نوی، مګر د تاریخ په ریښو سمبال غږ پورته شو. نن ورځ نړۍ یوازې د یوې نوې جغرافیې د فتحې شاهده نه ده، بلکې د یو داسې تمدني بدلون نندارې کوي چې د یو نیم ملیارده مسلمانانو د عزت د بیا راژوندي کولو ادعا لري. په افغانستان کې د ناټو له نظامي ماتې وروسته، د اسلامي امارت د واکمنۍ تحکیم د نړۍ د مظلومو مسلمانانو په تندیو کې د هیلو هغه ملغلرې وځلولې، چې له پېړیو راهیسې د استعمار تر خاورو لاندې پټې وې. مګر دلته یوه لویه او تاریخي پوښتنه راپیدا کیږي: ایا اسلامي امارت به وتوانېدلی شي د معاصر بشریت په وړاندې، د پیاوړي اقتصاد، ربښتیني امنیت او الهي عدالت یو داسې نړیوال بهلګه وړاندې کړي، چې هر ولس او د نړۍ هر مظلوم انسان د خپل زړه په تلوسه کې، کټ مټ د داسې یو نظام غوښتنه له خپلې ټولنې څخه وکړي.

دا چې څنګه اسلامي امارت په دې توانېدلی شي ځینې اړینو اقداماتو څخه مور په لاندې ډول یادونه کوو:

مسلمانو ورونو! زمور رسالت نړۍ ته د اسلام رسول او په نړۍ کې د اسلامي نظام حاکمیت دی هغه څه چې نن یې نړۍ له نشتون سره مخ ده. نن ورځ نړۍ ته د زور په وسیله د اسلام حکومتولۍ رسول ډېر سخت بربنډې ځکه په زرګونو خندونو لاره کې شتون لري، نو د دې لپاره چې یو نوی راټوکېدلی اسلامي نظام له یوې سیمه ییزې واکمنۍ څخه په نړیوالې فکري الګو او «اسوه حسنه» بدل شي، یوازې شعارونه او بیانیې کافي نه دي؛ بلکې د تاریخ د تګلارې بدلول لپاره هراړخیزو، مډرنو او په عین حال کې د خلفای راشدینو ؓ په اصولو سمبالو عملي ګامونو ته اړتیا لري. هغه مهال کله چې نړۍ د کابل حکومت ته ګوري، هغوی به د ثبات او عدالت داسې بهلګه مومي، چې په مډرنه نړۍ کې د نورو نظامونو د پاتې راتلو خلا ډکولای شي. د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره ځینې اساسي ابعاد شتون لري چې کولای شي اسلامي امارت د بشریت د تندې د خړوبولو په مرکز بدل کړي:

۱ـ د بې تبعیضه او شفاف عدالت پلي کول (عمري عدالت پلي کول): په معاصره نړۍ کې تر ټولو لویه ستونزه د قانون دوه ګونې چلند او د ځواکمنو په ګټه د عدالت قرباني کول دي. که چېرې اسلامي امارت د حضرت عمر فاروق (رض) هغه اصول په عمل کې جاري وساتي چیرته چې د واکمن او عام وګړي ترمنځ په محکمه کې هیڅ توپیر نه و، نو دا به د نړۍ د انسانانو لپاره تر ټولو لوی مقناطیس وګرځي. د عامه بیت المال په مصرفولو کې بشپړه روښتیا، د فساد او بډو (رشوت) په وړاندې قاطع دریځ، او هر افغان ته د هغه د حقونو بې له ځنډه رسول، هغه څه دي چې د غربي ډیموکراسۍ د دروغجن عدالت رنګ کمرنګه کوي او د نړۍ ولسونه د داسې یو نظام غوښتنې ته هڅوي.

۲ـ د ټولګډونه پرمختګ او ټولنیز امنیت خوندي کول: د خلافت راشده په پېر کې حکومت د هر فرد د ژوند، مال او عزت ساتونکی و. اسلامي امارت د داسې یو ماډل په وړاندې کولو سره چې په هغه کې مېرمنې، لږه کې، فقیران او بې وزله طبقه د خوندیتوب او اقتصادي ثبات احساس وکړي، کولای شي د نړۍ بهرته یو کړو او ټولو علومو څخه د زده کړې هدف د اسلام مبارک دین پرمختګ او رضا هدف وګرځوو ترڅو د بېساري ديني او عصري پرمختګ په حاصلولو سره زمور نظام نړۍ ته اسوه حسنه وګرځي.

۷ـ د حکومت ولې ټول دار او مدار د الله ﷻ د رضا لپاره ګرځول: الله ﷻ په قرانکریم کې فرمایي «قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ» ژباړه ووایه: زما لمونځ، زما د عبادت ټول مراسم، زما ژوند او زما مرګ، هر څه د کائیناتو د پالونکي الله (ج) له پاره دي؛ زمور د حکومت داري دار او مدار باید دغه آیت شریف وي کچېرته د هیواد، نظام، خلکو او یا هره برخه کې که عصري یا ديني پرمختګ کیږي هدف باید صرف د الله ﷻ د رضا ترلاسه کول وي.

له پورتنیو مواردو څخه سربېره نور هم زیات موارد شتون لري چې اسلامي امارت باید نړۍ د اسوه حسنه په توګه خپل ښکلی نظام وړاندې کړي، خو د بحث د اوږدوالي له وجهې یې له یادونې څخه تېرېږو. په عموم کې دُمره ویلای شو چې د اسلامي امارت د نړیوال کېدلو لپاره ډېر چانسونه شتون لري چې د هغو په واسطه مونږ کولی شو اسلامي امارت څخه داسې یو نظام جوړ کړو چې د نړۍ خلک په خپلو هیوادونو کې د داسې نظام د جوړېدو تقاضا وکړي. مګر دغسې یو ربښتیني او معاصر اسلامي نظام رامنځته کول په آسانۍ سره نشي کېدلای بلکې ددې اقداماتو لپاره باید لومړی د خپلو نفسونو غوښتنې بلکل تر پښو لاندې او هرڅه کې د زړه له تل څخه اسلام او شریعت ته ترجیح ورکړو، په دوهم قدم کې له آرام او غفلت څخه بلکل لاس واخلو او د خپل دغه اسلامي هدف د ساتلو او نړیوال کولو لپاره شپه ورځ په ديني او عصري برخه کې اعداد وکړو چې ترڅو وتوانېږو یو واقعي اسلامي نظام جوړ او نړۍ ته د نظامونو برخه کې اسوه حسنه وړاندې کړو.

وماعلینا الالبلاغ...

د مشرتابه فلسفه؛ ستر تمدنونه دغسې رهبري شول!

احسان الله احرار

د تاریخ پاڼې چې هر څومره واړوې، یوه پوښتنه به دې تل ذهن ته راګرځي: ولې ځینې ملتونه د پېړیو لپاره د نړۍ مشري کوي، خو ځینې نور د لنډ وخت له پاره وروسته د زوال کندې ته لوېږي؟ ایا د تمدنونو برخلیک یوازې له طبیعي سرچینو، پوځي ځواک او اقتصادي شتمنۍ سره تړاو لري، که تر دې ټولو پورته بل ځواک هم شته چې د ملتونو مسیر ټاکي؟ د تاریخ ژوره مطالعه دا څرګندوي چې د ستر تمدنونو تر شا تل یو اغېزمن مشرتابه ولاړ و؛ داسې مشرتابه چې د حال تر څنګ یې راتلونکی هم لید، د ورځنیو ستونزو تر څنګ یې د راتلونکو نسلونو په اړه هم فکر کاوه او د لنډمهاله ګټو پر ځای یې د تمدني بنسټونو د جوړولو هڅه کوله. مشرتابه یوازې د واک په ترلاسه کولو نه اندازه کېږي. ډېر کسان واک ته رسېدلي، خو ډېر لږ کسان توانېدلي چې تاریخ بدل کړي. واک د منصب نوم دی، خو مشرتابه د فکر، لید، مسئولیت او اغېز نوم دی. یو مشر هغه وخت د تاریخ په حافظه کې ژوندی پاتې کېږي چې خلک یې د وېرې له امله نه، بلکې د باور له امله تعقیب کړي. همدا باور د ملتونو د عروج اصلي سرچینه ګرځي. د تمدنونو د بریا تر ټولو مهم راز دا و چې مشرانو یې د خپل وخت له ارتیاوو وړاندې فکر کاوه. هغوی پوهېدل چې ملتونه یوازې د جګړو په ګټلو نه پیاوړي کېږي، بلکې د علم، اقتصاد، عدالت، اداري او اخلاقي نظم په پیاوړتیا دوام مومي. همدا لامل دی چې هر ستر تمدن، له اسلامي تمدن څخه نیولې تر نورو نړیوالو تمدنونو پورې، د داسې رهبرانو په مټ وده کړې چې د دولت د ورځنیو چارو ترڅنګ یې د علمي او فرهنګي بنسټونو جوړولو ته هم لومړیتوب ورکړی و. د اسلامي تمدن د ودې تاریخ د همدې حقیقت روښانه بېلګه ده. د اسلام له لومړیو کلونو سره سم داسې رهبري رامنځته شوه چې د انسان د شخصیت، عدالت، علم او مسئولیت پر بنسټ یې ټولنه بدله کړه. وروسته، د راشده خلافت په دوره کې حکومتداري د قانون، مشورې او حساب ورکونې له اصولو سره وتړل شوه. همدغه بنسټونه د دې سبب شول چې په لنډ وخت کې یو پراخ تمدن رامنځته شي، داسې تمدن چې د علم، اقتصاد، سیاست او فرهنګ په ډګرونو کې یې د نړۍ مشري وکړه. تاریخ دا هم راښیي چې ستر مشران د بحرانونو پر مهال پېژندل کېږي، نه د آرامۍ په وخت کې. د سوکالۍ پر مهال هر څوک اداره کولای شي، خو کله چې ستونزې، اقتصادي فشارونه، جګړې او سیاسي کړکېچونه رامنځته شي، هلته د رهبرۍ اصلي وړتیا څرګندېږي. بریالي مشران په بحراني حالاتو کې احساساتي پرېکړې نه کوي، بلکې معلومات راټولوي، سلا مشورې کوي، لومړیتوبونه ټاکي او د اوږدمهاله پایلو په پام کې نیولو سره اقدام کوي. همدغه ځانګړنه د دولتونو ثبات تضمینوي.د مشرتابه فلسفه د شخصیت له جوړونې سره هم ژوره اړیکه لري. هغه رهبر چې خپله د نظم، صداقت، ژمنتیا او مسئولیت بېلګه نه وي، د نورو د اصلاح تمه نه شي کولای. ملتونه د خپلو مشرانو خبرې تر یوه حده اوري، خو کرنې یې تر ډېره تعقیبوي. ځکه نو د رهبر شخصي اخلاق د ټولنیز اخلاقو پر فضا مستقیم اغېز کوي. هر کله چې د رهبر او عمل ترمنځ واټن زیات شي، د خلکو باور هم ورو ورو کمېږي.ستر تمدنونه د دې لپاره هم دوام کړی چې مشرتابه یې پر افرادو نه، بلکې پر بنسټونو پانګونه کړې ده. افراد بدلېږي؛ خو بنسټونه پاتې کېږي. هغه دولت چې عدالت، تعلیم، اقتصاد، قضا، ارشیف، کتابتون، پوځ او اداري نظام پر قوي بنسټونو ودروي، د افرادو له بدلون سره نه نړېږي. برعکس، هغه نظام چې هر څه د یوه شخص پر نفوذ ولاړ کړي، د هماغه شخص له تګ سره د کمزورۍ له ګواښ سره مخ کېږي. علم ته پاملرنه د هر بریالي مشرتابه بله مهمه ځانګړنه ده. د نړۍ هېڅ ستر تمدن د ناپوهۍ پر بنسټ نه دی جوړ شوی. بغداد، قرطبه، سمرقند، بخارا، قاهره او هرات هغه وخت د نړۍ علمي مرکزونه شول چې د وخت مشرانو د پوهنتونونو، کتابتونونو، ژباړې، څېړنې او عالمانو ملاتړ وکړ. همدغه پرېکړې د څو پېړیو لپاره د اسلامي تمدن د علمي برلاسۍ لامل شوې. دا تجربه ښیي چې د مشرتابه تر ټولو ستره پانګونه د انسان پر ذهن او پوهه کېږي، نه یوازې پر ودانیو او ظاهري پروژو.

اقتصادي لید هم د ستر رهبرۍ نه بېلېدونکې برخه ده. هر تمدن چې سوداګرۍ ته لاره هواره کړې، تولید یې پیاوړی کړی، د بازار باور یې ساتلی او د پانګونې لپاره یې مناسب چاپېریال برابر کړی، د اوږدې مودې لپاره یې ثبات هم ساتلی دی. په مقابل کې، هغه حکومتونه چې اقتصادي نظم یې له پامه غورځولی، د لنډ وخت له ځواک وروسته د کمزورۍ پر لور تللي دي. له همدې امله اقتصاد د مشرتابه له ستراتیژۍ څخه جلا نه شي ګنل کېدای. له تاریخ څخه بل مهم درس دا دی چې ستر مشران د مخالف نظر له اوږدو نه وېرېږي. هغوی پوهېږي چې سلا، نقد او د بېلابېلو نظرونو اوږدل د پرېکړې کیفیت لوړوي. هغه چاپېریال چې پوښتنې، علمي بحث او مسئولانه نقد پکې ژوندی وي، د تېروتنو د اصلاح فرصت هم زیات وي. برعکس، کله چې مشرتابه د خپلو اشتباهونو د پټولو هڅه کوي، د خلکو ترمنځ باور کمزوری کېږي او ټولنه د ویرې، شک او بې باورۍ په لوري ځي. د تاریخ یو بل درس دا دی چې هغه تمدنونه چې د خپلو مشرانو د ستاینې پر ځای د هغوی د نیوکې حق ساتلی، د ستونزو د وخت په تېرېدو کې یې د ځان اصلاح کړی دی. د مشرتابه فلسفه دا ده چې مشر باید د خپلو ځایونو ساتونکی نه، بلکې د راتلونکو نسلونو د ګټو ساتونکی وګڼي. که مشر دا احساس وکړي چې پرته له هغه ټولنه نشي ودرېدای شي، نو همدا احساس د هغه د زوال پیل دی. د مشرتابه فلسفه دا ده چې مشر د خپلې ټولنې د ژوندي حافظې په توګه وګڼي. که مشر د خپلې ټولنې حافظه له منځه یوسي، نو ټولنه د خپل ماضي له لاسه ورکولو سره سم د خپل راتلونکي له لاسه ورکولو ته هم مخه کوي.

د مشرتابه فلسفه موږ ته دا هم را زده کوي چې د ملتونو ستره پانګه د خلکو باور دی. پوځ، اقتصاد او طبیعي سرچینې مهمې دي؛ خو که د خلکو اعتماد له منځه ولاړ شي، د دولت نور ځواکونه هم ورو ورو اغېز له لاسه ورکوي. باور د عدالت، شفافیت، قانون، مسئولیت او ربښتینولۍ په مټ جوړېږي. هر رهبر چې د خلکو دا پانګه وساتي، د اوږدمهاله ثبات لپاره قوي بنسټ برابروي.همدا ځکه تاریخ د رهبرانو نومونه یوازې د هغو جګړو له امله نه یادوي چې ګټلې یې دي؛ ډېر وخت هغوی د هغو بنسټونو له امله په یاد پاتې کېږي چې جوړ کړي یې دي. ښارونه، پوهنتونونه، کتابتونونه، اقتصادي اصلاحات، د قانون حاکمیت او د علم ملاتړ هغه میراثونه دي چې د رهبرۍ ریښتینی ارزښت څرګندوي او د تمدنونو د دوام سبب ګرځي.

امراض که با افزایش گرما و عدم رعایت حفظ الصحه محیطی شدت می یابد

احمدشاکرضربی

فرهنگ شهرنشینی مجموعه یی از هنجار ها، ارزشها، آداب، قواعد و مقرراتی است که باید در تمام فصل ها به ویژه فصل تابستان، نهایتآ رعایت شود، زیرا رعایت نکردن این مقررات نه تنها سبب بی نظمی و انارشیزم در شهر می شود، بلکه جامعه سالم ما را دچار ناهنجاری های صحی ساخته، باعث مرگ و میر کهن سالآن به ویژه کودکان می گردد. اما برعکس رعایت قوانین، مقررات و آداب شهری و حفظ الصحه محیطی، سبب نهادینه شدن فرهنگ شهرنشینی گردیده، زندگی شهری را نظم و رونق می بخشد، زیرا تمام ویژگی های شهری به خصوص محیط زیست شهری به طور مستقیم وغیر مستقیم متأثر از فرهنگ شهرنشینی است.

هر چند فرهنگ شهری بخشی از فرهنگ عمومی جامعه است که به طور مستقیم با برنامه ریزی و مدیریت شهری ارتباط دارد، اما اگر به فرهنگ شهری منحیث یک اولویت اساسی، ارجحیت و اعتبار قائل نشویم، بدون شک مدیریت وبرنامه ریزی فرهنگ عمومی جامعه که از جانب مسوولان، طرح ریزی وتطبیق می گردد، نیز زیر سوال قرار خواهد گرفت که باید شهروندان درتبانی با مسوولان در پاکی ونظافت شهر و ماحول، همچنان رفتار، کردار، پندار و استفاده غذاها و مصرف آن توجه نمایند، زیرا شهروندان در قبال یکدیگر مسوول هستند ونباید برای همدیگر، دست اندر کاران ومسوولان امور مزاحمت ایجاد نمایند.موضوع مورد نظرما با این چند تعریف خلاصه نمی شود، بلکه باید به صورت اجمالی به بعضی از عادات و رفتارهای که سبب بی نظمی، ناهنجاری، همچنان سبب مریضی هموطنان به ویژه متعلمین می گردد، بپردازیم. در این بحث می خواهم، روی برخی از غذا ها، میوه ها و نوشیدنی های که استفاده از آنان در روی جاده ها، سبب مریضی هموطنان ما می گردد، مکثی کوتاهی داشته باشیم.

مانند؛

_فروش میوه های تازه بخصوص تربوز وخربوزه دو میوه ای که اگر بعد ریزه کردن آن نوش جان نگردد، فاسد شده انسان را دچار امراض تهوع واسهالات می سازد.

_فروش آب میوه از قبیل آب سیب، زردک، آلبالو، آم، مالته و ...که امروز در تمامی شهر ها به ویژه شهر کابل به نظر می رسد، اما با تاسف که به شکل غیر معیاری ترتیب وبا پودر ها مخلوط و آماده استفاده می گردد که سبب امراض گونه گون می شود.

-پخت وپز کباب چگر، بولانی، آماده کردن دوغ و پخت اقسام گوشت ها، آن هم در روی جاده ها، تخطی دیگر صحی است که باعث امراض گونا گون گردیده تا سرحدی که انسان را به درمانگاه ها و شفاخانه ها می کشاند.

عدم استفاده از آیسکریم قلفی و ... آن هم در کراچی های که بدون معیار های صحی با دستان آلوده، ترتیب می گردد، جدآ پرهیز گردد.

-بنابرین از اینکه درجه حرارت با گذشت هر روز رو به افزایش است، باید هموطنان ما به خصوص کودکان از استفاده این خوراکی ها و نوشیدنی ها که اغلب در کنار جاده های مزدحم، مقابل دروازه های مکاتب و.. آماده و به فروش می رسد، جدآ پرهیز کنند، زیرا گرمایش تابستان امسال نسبت به دیگر سالها بیشتر است، طبعآ در صورت رعایت نکردن قوایدصحی، دچار امراض گوناگون خواهیم شد.

روی این اساس باید در قسمت استفاده این گونه خوراکی ها ونوشیدنی ها توجه جدی صورت گیرد تا نه تنها در راستای تقویت ونهادینه شدن فرهنگ شهری یا شهرنشینی با مسوولان و مدیران شهری، همکاری گردد، بلکه در قسمت استفاده خوراکی ها، نوشابه ها و نوشیدنی های که در روی جاده ها در فضای باز بفروش می رسد، خود داری شود، زیرا صحت سروت است روی این اساس باید بیشتر متوجه صحت وسلامتی خود باشیم. زیرا ادامه جنگ های تحمیلی علاوه بر متضرر ساختن دیگر زیر ساخت ها، سکتور صحت را نیز تا حدی تضعیف نموده که امروز شفاخانه های ما ظرفیت آن چنانی که به تمام مریضان، هم زمان رسیدگی صورت گیرد را ندارد.

روی این اساس چه زیبا گفته اند: علاج واقعه قبل از وقوع ، یعنی باید پیش از درمان به وقایع توجه گردد.

د خلکو له خوا د مننې او خوښۍ اظهار!

د میدان وردګو ولایت د معتادینو له درملنې روغتون څخه د څو ناروغانو د مننې څرګندونه!

عبدالهادي روان

غزني ولایت ته د سفر پر مهال زمور موټر د میدان ښار په څلور لارې کې ودرېد. درې تنه ځوانان موټر ته راوختل او زمور ځنګ په نړدې څوکۍ کېناستل. هغوی په خپلو کې خبرې پیل کړې او د دوی د خبرو لومړی موضوع د میدان وردګو ولایت د معتادینو د درملنې روغتیایي څانګې له مسؤلینو څخه منه او ستاینه وه.کله چې مې د دوی خبرو ته پام شو، د خبرو له انداز څخه پوه شوم چې دوی پخوا په نشه‌یي توکو روږدي وو او د درملنې او اعتیاد پرېښودو لپاره همدې روغتون ته راغلي وو، یا هم د خپلو خپلوانو او دوستانو له خوا راوستل شوي وو. هغوی د درملنې دوره بشپړه کړې وه او اوس بېرته خپلو کورونو ته ستنېدل. د دوی له ډلې د یوه له خبرو پوه شوم چې لوستی دی. د دوی په اجازه مې ور سره خبرې پیل کړې او په سر کې مې و پوښتل: هغه روغتون چې تاسو یې یادونه کوئ، چېرې موقعیت لري او د معتادینو د درملنې او اعتیاد پرېښودو بهیر څنګه پر مخ وړي؟

هغوی وویل: دا روغتون د ولایت په مرکز کې موقعیت لري. د درملنې او اعتیاد پرېښودو پروګرام یې په دوو پراوونو کې تر سره کېږي او ټولټال ۴۵ ورځې وخت نیسي. لومړی ۱۵ ورځې یې د اعتیاد د پرېښودو سخت قرنطین دی، چې ناروغانو ته ځانګړي درمل ورکول کېږي، تر څو د نشې د غوښتنې او اغېزو شدت کم او له منځه یوسي. وروسته یوه میاشت د اسلامي او اخلاقي زده‌کړو ترڅنګ د روغتیایي بیارغونې پروګرامونه ترسره کېږي، څو د درملنې او اعتیاد پرېښودو بهیر په بریالیتوب بشپړ شي او ناروغان له روغتونه تر رخصتېدو وروسته ببرته اعتیاد ته مخه نه کړي.د دغو هېوادوالو د خبرو په پای کې زه هم ډېر خوښ شوم چې په اوسنیو شرایطو کې داسې کسان شته چې د هېواد او اسلام د مینې له مخې د ټولنې د دې مظلوم او سخت زیانمن قشر د درملنې لپاره د مسؤلیت احساس کوي او په خپل ټول توان هڅه کوي هغوی له دغه ناورینه څخه وژغوري.

د یادونې وړ ده چې پخوا د اعتیاد دا خطرناک او ورانوونکی بهیر د پټو او بنکاره مافیایي کړیو او د کورنیو او بهرنیو ګډو شرکتونو له خوا پر مخ وړل کېده. لکه څنګه چې د امریکا د اشغال پر مهال، آن د اشغالګرو ځواکونو ځینو قوماندانانو هم د کورنیو قاچاقبرانو په همکاری دغه پروژې په ګډه پر مخ وړلې او څو ځله د همدې پروسې د عوایدو د وېش پر سر هم یو له بل سره په شخړو کې بنکېل شوي وو او د دغو لانجو په ترڅ کې آن د هغه وخت د دولت د کابینې او پارلمان د ډېرو غړو نومونه هم یادېدل. بې‌شکه چې هغوی هم پکې بنکېل وو؛ خو لکه څنګه چې د بهرنیو اشغالګرو ملاتړ ورسره وه، له عدلي تعقیب څخه خوندي وه او هېڅا هم د پوښتنې جرأت نه درلود.

هیله ده چې زمور د هېوادوالو د ژغورلو لپاره له دې تور طاعون، یعنې اعتیاد څخه، لا ډېرې او چټکې هڅې وشي او دې ناوړه بهیر ته د تل لپاره د پای ټکی کېښودل شي.

په پای کې په خپل وار د دغه روغتون ټولو مؤمنو او زړه سواندو مسؤلینو ته په اړوندو چارو کې د بشپړ بریالیتوب هیله کوم.

۱۱د جولای د نفوس د نړیوالې ورځې په مناسبت

نفوس په یوه هېواد کې تر ټولو ستره شتمني ده

حیات الله حلیم

انسان الله پاک د ځمکې پر مخ د عقل، پوهې، شعور او هوښیارۍ په لحاظ اشرف المخلوقات پیدا کړی، نو همدا انسان دی چې د ځمکې د مخ زیور او اوسنۍ نړۍ یې په وجود ښایسته ده. مسلمانان د اسلامي اصولو او روایاتو له مخې پر دې باور دي چې د انسان او انسانیت مبدآ له حضرت آدم علیه سلام څخه را پیل شوې او تر نن پورې را غځېدلې ده، چې ورو ورو همدغه انسان د ځمکې پرمخ پنځېدلی، له یوې جغرافیا بلې ته او له بلې نه بلې ته تللې او په هغه ځایونو کې ېښت شوي، چې هلته د دوی د اسکان لپاره شرایط برابر موندل شوي دي. اوسمهال انسانانو د ځمکې ټولې کره تسخیر کړې او د ځړنیزو معلوماتو له مخې د ځمکې د کرې په هره برخه کې چېرې چې اکسیجن او اوبه موجودې دي، هلته یې ځالې جوړې او ژوند کوي. تاریخونه زیاتره له اسماني کتابونو څخه جوړ شوی، اسماني ادیان وه چې انسانان یې متمدن او له هر څه یې خبر کړ. له اسلامي تمدنونو څخه ښکاري چې انسانان لومړی د منځنۍ ختیځ په جغرافیا کې ېښت او پنځېدلې؛ ځکه ټول پیغمبران په دې جغرافیا کې راغلي او الهي دینونه یې دلته تبلیغ کړي، چې د همدغه الهي کتابونو له برکت څخه مور د بشري تاریخ یا بشري نفوسو د څرنګوالي څرک لګولی شو. دلته یوې باریکې موضوع ته هم باید اشاره وکړو:

[له انسانانو ماورای نورې ژوند بنې د نفوس په ډله کې نه راځي، کله چې مور د نفوس نوم اخلو، منظور مو هغه انسانان دي چې د ځمکې پر مخ له یو بل سره د نېکو انساني اړیکو له لارې یو د بل په خوا پورې اوسېږي. دا ټکی هم د یادولو دی، له هغه وخت نه چې انسانان د ځمکې پر مخ پنځېدلي، لازم له یوې جغرافیا نه بلې ته او له بلې نه بلې ته تللی او کوچېدلي دی.

د نړۍ نفوس اوس په پنځو لویو براعظمونو (آسیا، افریقا، امریکا، اروپا او استرالیا) کې اوسېږي، چې د هر براعظم خلک د ځېرو، فرهنګ، رسم، رواجونو او آن د فزیکي جوړښت له مخې یو لړ ځانګرتیاوي لري؛ خو ظاهري صورت یا بدني جوړښت یې ورته والی سره لري.

څېړنو ښودلې ده چې د نړۍ زیات نفوس د آسیا په براعظم یانې چین او هند په هېوادونو کې متمرکز دی چې د هند نفوس د نړۍ د هېوادونو ترمنځ د لوړ یانې یو نیم میلیارد وګړو درلودونکی نفوس دی. له هغه وروسته بیا چین دی چې مجموعي نفوس یې یو اعشاریه یو څلوېښت میلیارد وګړو ته رسېږي چې دا دوه ملکونه د نړۍ د لوړ نفوس درلودنکي هېوادونه پېژندل شوي دي.

په مجموع کې د نړۍ نفوس اوس اته ملیارد ه وګړي اټکل شوی دي؛ خو جالبه دا ده چې د نړۍ دا نفوس اوس په ډېره حیرانۍ د پخوانیو زمانو پر خلاف د ګلوبل ویلج (یوې کورنۍ) په شان سره نږدې شوي دي؛ خوردا حقیقت یې هم په ګوته کړی، چې دا قرابت له ګټو او زیانونو دواړو سره ملګری دی. ځکه مور ولیدل د دې پر ځای چې دا نږدېوالی د اقتصادي همکاری، صنعت د ودې او سوداګریزې ښېلونې سبب شي، برعکس په ځینو مواردو کې یې تمام عیار جنګونه هم را منځته کړي دي. په افغانستان او عراق کې دوې نېمې لسیزې د مخه له امریکا له لوري حمله وشوه او دا ملکونه یې سره ګډوډ کړل. په تېرو څو کلونو کې اسرائیلو د فلسطین په زر ګونه انسانان ووژل، یا په بل عبارت هلته یې بېګناه نفوس په ننبه او له منځه یوړه. څه موده . مخه بر ناحقه د د کومې پلمې په ترڅ امریکا او اسرائیلو ایران په ننبه کړ او په دغه ملک کې یې نفوس ته زیان واړوه؛ خو برعکس ایران بیا اسرائیل او په خلیجي ملکونو د امریکا تاسیسات په ننبه کړل چې دا د نړۍ د نفوسو شاهکارونه او ګلوبل ویلیج هغه لاسته راوړنې هم ګڼلی شو ،چې د نړۍ نفوسوته یې بر ناحقه داسې زیانونه واړول. تجربو ثابته کړې، چېرې چې ښه ګاونډیتوب وي، هلته ښه امنیت او د وخت په تېرېدو سره د نفوسو د بقا تضمین هم موجود وي، ځکه په جنګونو او تاوتریخوالي کې نه مري.

ژوند د هر چا مسلم او طبعي حق دی، له موره چې په هر ملک کې یو ماشوم پیدا شي، د ټولو حقه حقوقو څخه برخمن ګڼل کېږي او هېڅا ته دا اجازه نشته چې د هغه نفس تېرې واخلي او یا یو انسان بل انسان له ژوند نه محروم کړي. په بل عبارت هر هغه څوک چې دنیا ته راځي، د ژوند حق لري چې دا حق نه یوازې په اسلام کې ورکړل شوی، بلکې د ملګرو ملتونو په منشور کې هم د ژوند حق د انسانانو د مهم او بنسټیز حق په توګه پېژندل شوی دی.نو د خپلو خېرو په وروستیو کې ویلی شو چې نفوس د هر هېواد تر ټولو ستره قیمتي شتمني او هر هېواد په خپل نفوس آباد دی. په یوه جغرافیا کې د نفوس شتون د دې سبب کېږي، چې هغه جغرافیا د نړۍ نور هېوادونه وپېژني. که یو هېواد سالم او تعلیم یافته وګړي ولري، همغه هېواد به د نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله ژر پرمختګ هم کوي؛ خو په هر هېواد کې ځوان او انرژي لرونکي نفوس بیا مهمه ځانګړتیا ده چې باید ځانګړې پانګونه پرې وشي. ځوان نفوس د یوه ملک لپاره هغه ځانګړی فرصت دی چې توانا مټې لري. که دوی ته زده کړې، مسلکي روزنه او د کار زمینه برابره شي، نو حتمي ده چې خپل هېواد به په اقتصادي او علمي ډګرونو کې پیاوړی کړي.

بحران موجود جهان را به کجا خواهند کشید؟

شیرمحمد استوار

زندگی در محدوده جوامع و کشورهای به نحوی از انحا به اساس قوانین و موازین جهانی تدوین و ترتیب گردیده، که در آن حقوق حقه ی انسانی و احترام متقابل میان کشورها با در نظر منافع دو طرف تنظیم گردیده است. بروز تنش ها و بحران های اقتصادی، اجتماعی و سیاسی در فراز ونشیب تاریخ در میان جوامع پدیده انکار ناپذیر بوده و است که گه گاهی این تنش ها در بر گیرنده بحران در حد ستیز و تقابل به شکل کشوری و گروهی صورت گرفته که تاریخ بشریت گواه و شاهد آن است. به عنوان مثال جنگ اول جهانی و جنگ دوم جهانی و... اکنون بحث ما از وضعیت و بحران موجود است. طوریکه دیده می‌شود نابرابری و جنگ در این گوشه و آن گوشه جهان خواسته و ناخواسته جریان دارد و آنچه که شایان ذکر است طرف های در گیر در جنگ حامیان و طرفداران خویش را در حاشیه ادامه این جنگ باخود دارند که همه این حقیقت را میدانیم. در پیوند به بحران موجود بارع است گزرا کنکاش و تکمین روی چیستی و چگونگی عاملین جنگ و متجاوزین آن داشته باشیم. اسراییل و امریکا خلاف تمام موازین جامعه جهانی بدون هیچ گونه دلیل موجه بالای جمهوری اسلامی ایران تجاوز نموده با ترفند های نظامی و سیاسی می‌خواهد. در این جنگ ناخواسته از سوی ایران دست آورد های مغرضانه خویش را به نحوی داشته باشد. در قفای این جنگ اغراض نهفته ای از حیث اقتصادی، سیاسی به دنبال دارد متجاوزین از یکسو دست به جنگ زده و از سوی دیگر طرح آتش بس را مطرح نموده، که در پی این تحرکات مقاصد و تکذیب های فتنه گونه ای وجود دارد. پس از طرح آتش بس و نشست میان جمهوری اسلامی ایران با گذشت چند روز جنگ از سوی آمریکا از سر گرفته شد و بیشترین نقاط کلیدی و اساسی این کشور هدف قرار گرفته است. همچنان کشور های خاورمیانه که در آنها پایگاه نظامی آمریکا قرار دارد، از سوی جمهوری اسلامی ایران زیر آتش گرفته شده است، که چنین وضعیت دامنه جنگ را وسیع ساخته و یک قسمت زیاد از کره زمین و کشور ها را ناامن ساخته است. در پیوند به این موضوع وزارت خارجه جمهوری اسلامی ایران به کشور های همسایه و منطقه هشدارداده است، از هر کشوری که خلاف منافع ایران در این جنگ همکاری صورت گیرد و یا به آمریکا اجازه داده شود که علیه جمهوری اسلامی در جنگ از آن استفاده نماید، از سوی نیروهای دفاعی ایران زیر آتش گرفته می‌شود. حال جان سخن در اینجاست که دامنه این جنگ رفته رفته گسترش پیدا کرده و شعله این جنگ روی همرفته دامن جهان را خواهد گرفت. زیرا طوریکه در فوق اشاره نمودیم هر طرف در گیر در جنگ طرفداران خود را داشته و دارند که در صورت گسترش جنگ و نیازمندی به کمک حامیان و طرفداران دوطرف داخل جنگ خواهند گردید. پس به این اساس روی همرفته به طرف جنگ سوم جهانی نزدیک شده می‌رویم در صورت شدت جنگ هر آن احتمال جنگ سوم جهانی وجود دارد. قابل یاد دهانی می‌دانیم که در صورت جهانی شدن این بحران عواقب جوامع انسانی خطر ناک تر از جنگ اول و دوم جهانی خواهد بود زیرا امکانات نظامی و تجهیزات دست داشته امروز کشورها تا ختم جنگ دوم جهانی یعنی سال ۱۹۴۶ خیلی ها فرق می کند. امروزه بشر به تجهیزات مدرن تری نسبت به آن زمان در دسترس دارند شاید در صورت بروز جنگ سوم جهان به یک کلبه ویرانه مبدل شود، هنوز فرصت خوب در دسترس نهاد های ذیربط؛ چون: سازمان ملل متحد، شورای امنیت و دیگر سازمان ها قرار دارد. باید با اغتنام از فرصت سد راه این جنگ و هر جنگ دیگر میان کشورها شده تا باشد کشور ها در فضای صلح و باهمی در کنار هم زیست نمایند.

۳۴ نصیحت یک پدر به پسر نازنینش

مولوی خالد تسل

۱. هرگز بیش از حد به حافظه خود اعتماد نکن؛ هر موضوع مهم را یادداشت کن.
۲. هر روز دست‌کم ۳۰ دقیقه پیاده‌روی کن.
۳. اگر تصمیم داری کاری را از فردا آغاز کنی، امشب زود بخواب و آن را به تأخیر نینداز.
۴. بدون ضرورت، اطلاعات شخصی و مالی خود را با دیگران در میان نگذار.
۵. هنگام خرید خانه، پیش از هر چیز درباره محل، آب‌وهوا، امکانات و همسایه‌ها تحقیق کن.
۶. از مردم درباره مقدار معاش یا درآمد ماهانه‌شان سؤال نکن.
۷. تنها به کسانی قرض بده که کاملاً به آنان اعتماد داری.
۸. ساعت خود را حدود پنج دقیقه جلوتر از وقت واقعی تنظیم کن تا همیشه وقت‌شناس باشی.
۹. اجناس بی‌کیفیت و بی‌ارزش خریداری نکن.
۱۰. از استعمال سگرت (سیگار) خودداری کن.
۱۱. هنگام دفاع از حق خود، هرگز اخلاق و شخصیت را از دست نده.
۱۲. دانش و تجربه خود را با دیگران شریک ساز و به آنان آموزش بده؛ زیرا بهترین راه ماندگار شدن دانش، آموزش آن است.
۱۳. هرگاه از یکی از خوبی‌های دوستت آگاه شدی، همان را به خودش نیز بگو.
۱۴. طبیعی و فروتن باش و از خودنمایی دوری کن.
۱۵. پیش از انجام کار یا ارائه خدمت، به هیچ‌کس پول نقد پرداخت نکن.
۱۶. پیش از قرض دادن به دوستان، درباره توانایی و امانتداری آنان تحقیق کن تا نه پولت را از دست بدهی و نه دوستی‌ات را.
۱۷. وقت ارزشمند خود را صرف پاسخ دادن به هر انتقادی نکن.
۱۸. در مسایل سیاسی، کورکورانه به هیچ‌کس اعتماد نکن.
۱۹. تا زمانی که شغل مناسب دیگری پیدا نکرده‌ای، کار فعلی خود را ترک نکن.
۲۰. فرزندانت را همان‌گونه که هستند بپذیر، نه آن‌گونه که دوست داری باشند.
۲۱. در انتخاب همسر بسیار دقت کن؛ زیرا همسر در شادی و سختی‌های زندگی سهم بزرگی دارد.
۲۲. در تربیت فرزندان، تشویق و تنبیه را متناسب با رفتار آنان در نظر بگیر.
۲۳. همه انسان‌ها از تشویق و قدردانی خوشحال می‌شوند؛ از تحسین صادقانه دیگران دریغ نکن.
۲۴. اگر در مجلسی همه سکوت کرده‌اند و لازم است حقیقت یا نظر مفیدی بیان شود، با احترام دیدگاه خود را مطرح کن.
۲۵. هرگاه بزرگ‌تر یا سالمندی وارد اتاق شد، برای احترام به او از جای خود برخیز.
۲۶. اگر موتر دوستی را به امانت گرفتی، هنگام بازگرداندن آن، باک تیل آن را نیز پر کن.
۲۷. اگر ناچار شدی یک وسیله را بیش از دو بار از کسی امانت بگیری، بهتر است آن را برای خود تهیه کنی.
۲۸. ارزش واقعی یک کالا به قیمت نوشته‌شده آن نیست؛ بلکه به این است که با توان مالی تو متناسب باشد.
۲۹. از رفتار و تربیت فرزندانت غافل نشو؛ زیرا تربیت آنان مسئولیت تو است.
۳۰. اگر کسی با تو رفتار نادرستی داشت و خواستی بزرگواری خود را نشان دهی، با فرزندان او با مهربانی و احترام رفتار کن.
۳۱. با زنی ازدواج کن که در مدیریت زندگی و اقتصاد خانواده، همراه و همکار تو باشد.
۳۲. با کسانی که از تو بسیار ثروتمندتر یا بسیار فقیرتر هستند، درباره مسائل مالی گفت‌وگو نکن.
۳۳. اجازه نده تلفن همراه، لحظه‌های ارزشمند زندگی‌ات را از تو بگیرد؛ موبایل وسیله‌ای برای آسایش توست، نه اینکه تو در خدمت آن باشی.
۳۴. هنگامی که به شغل مناسب دست یافتی و آرزوهایت رنگ واقعیت گرفت، بیش از اندازه نگران درآمد نباش؛ اگر مسئولیت را درست انجام دهی، روزی نیز به‌دنبال آن خواهد آمد.

با آرزوی موفقیت، سربلندی و توفیق در عمل.

د دین روح

پنځه څلوېښتمه برخه ـ میا نور آغا «حقاني»

تهذیب الأخلاق: د لمونځ د اوقاتو حکمت: سهار د ورځې ابتداء او شروع دی، له دې امله په دغه وخت کې لمونځ فرض کړی شوی چې په دې سره د ورځې شروع د الله تعالی په ذکر سره وشي او ورځ له برکته ډکه شي. همدارنګه ټوله شپه په خوب او غفلت سره تېره شوي وي چې په لمانځه سره د دغه غفلت جبیره وشي، له دې سره د سهار او مابنام په وخت کې (کرام کاتبین) ملایکې سره بدلېږي، په سهار کې د شپې ملایکې رخصت کېږي او بنده اعمال وړي. د ورځې ملایکه نوي راځي، له دې امله هم د سهار لمونځ ضروري ده تر څو د شپې عمل نامه په نیک عمل تمامه شي او د ورځې عمل نامه په نیک عمل شروع شي. د ماسپښین لمونځ وروسته له دې فرض شوی چې په ورځې نیمه حصه په کار او د معاش په طلب کې تېره شوې وي، د معاش د حصول په مقابل کې شکر ادا کړی شي، همدارنګه د قیلولې (د غرمې خوب) د غفلت او استراحت د شکریې په مقابل کې هم د الله تعالی عبادت ضروري دی، له دې سره د معاش د حصول په مقابل کې هم باید شکر ادا کړی شي.

د مازدیکر لمونځ د ورځې په پای کې ادا کیږي، په دې سره د ورځې له نعمتونو څخه د استفادې، په خیر او سلامتیا سره د ورځ تېریدو له امله باید بنده د الله تبارک و تعالی شکر او حمد ادا کړي، په ورځ کې له انسان څخه هر رنګ عمل تر سره کیږي، ډېر صغیره ګناهونه ترې صادریږي، له دې امله هم باید د مازدیکر لمونځ ادا کړي تر څو د ګناهونو کفاره وګرځي. مابنام د ورځې رنا خپله لمن راونغاړي، اختتام ته ورسېږي او شپه خپلې تیارې را خوږې کړي، ګویا د ژوند یو مهم پراو تیر شو او یو بل حالت رامنځ ته شو، له دې امله دغه مهم مراحل په سلامتي او د الله تعال په نعمتونو سره طی کول بغیر د الله تعالی له مرستې څخه نه تر سره کیږي، له دې امله له الله تعالی سره د لمونځ په شکل کې مناجات کول اړین دي تر څو یې رضا او مرسته حاصله شي، همداراز مابنام کې د شپې کرام کاتبین ملائکې نوې کیږي او د ورځې ملائکې رخصت اخلي، له دې امله باید بنده کوښښ وکړي چې دورځې صحیفه یې په عبادت ختمه شي او د شپې صحیفه یې له رب سره په مناجات شروع شي.

د ماخوستن وخت کې شپه پخه شي، د شپې قسماقسم شرونه او شیطاني حرکات خپل جال خپور کړي، له دې شرونو څخه د ځان ساتنې له امله باید رب ته د لمونځ په صورت کې رب ته خپله عاجزي وړاندې کړی شي او الهي مرسته او رضا طلب کړي، همدا رنګه انسان ورسته له سترپا او بې خوبی څخه استراحت او خوب ته فنا وړي، چې په دې سره د غفلت او بې پروایي حالت رامنځ ته کېږي، چې انسان له خپل اهل، مال او ځان څخه بې خبره وي، له دې امله حفاظت او ساتنې ته زیاته اړتیا لري، دغه اړتیا په کامله توګه یوازې الله تعالی پوره کوی شي، له دې امله رب ته په پوره انکسار سره د لمونځ په شکه عبادت کول اړین دي تر څو له دې پرانو په خیر او حفاظت سره تېر شي. فرض لمونځ اکر چې دېر ثواب لري او د الله تعالی پوره فرمانبرداري په کې نغښتې ده، خو بیا هم مقصودي لمونځ نفلي لمونځ دی؛ ځکه فرض خو د فرض په معنا سره دی او نفل له خپل ځان الهي دربارته عبادت پیش کول دي، چې دا پوره خلوص اظهار دی، له دې امله له فرائضو سره باید د نوافلو اهتمام هم وکړی شي، تر تول زیات ثواب په هغو نوافلو کې دی چې په هغه کې مشقت زیات وي او توجه په کې زیاته برابره وي، دا دواړه په پوره پیمانه په تهجد کې موندل کیږي، تهجد د شپې په آخره حصه کې کیږي چې له درانه خوب څخه پورته کېدل او بیا اودس کول خورا درونده کار دی، همدارنګه په دې وخت کې فضاء ارامه وي هیڅ شور او شغف نه وي چې په ښه توګه توجه برابرېږي او د مناجات لپاره تر ټوله ښه وخت وي، له دې امله د تهجدو ثواب زیات وي. نور بیا...

د سکو تاریخ؛ پیسې څنګه د باور معیار شوې؟

احمد ولید کنان

د انسان د اقتصادي ژوند په تاریخ کې ډېر بدلونونه راغلي، خو د سکو او پیسو رامنځته کېدل له هغو تحولاتو څخه دي چې د سوداګرۍ، اقتصاد، دولتونو او تمدنونو مسیر یې بدل کړ. نن چې خلک د یوه کاغذي بانکنوټ، فلزي سکې او یا هم ډیجیټلي شمېرې په بدل کې توکي او خدمتونه ترلاسه کوي، د دې تر شا یو بنسټیز اصل پروت دی، او هغه باور دی. که باور له منځه ولاړ شي، پیسې خپل ارزښت له لاسه ورکوي، بازارونه ګډوډېږي او اقتصادي اړیکې زیان ویني. له همدې امله د سکو تاریخ یوازې د فلزاتو او اسعارو تاریخ نه دی؛ دا د باور، قانون، دولت او اقتصادي نظم تاریخ هم دی.

د بشري تمدن په لومړیو پراوونو کې د تبادلې نظام حاکم و. خلکو به غنم د مالداری له محصولاتو سره، مالونه به د جامو په بدل کې او نور توکي به د اړتیاوو له مخې یو له بل سره تبادله کول. دا نظام د کوچنیو ټولنو لپاره تر یوه بریده مناسب و، خو د سوداګرۍ له پراخېدو سره یې نیمګړتیاوې څرګندې شوې. که یو کس غنم لرل او د فلزي وسیلې اړتیا یې لرله، باید داسې څوک یې پیدا کړی وای چې هم فلزي وسیله ولري او هم غنمو ته اړتیا ولري. د همدې ستونزې له امله سوداګري وړو، ستونزمنه او محدوده پاتې کېده.

وړو وړو انسان دې پایلې ته ورسېد چې د تبادلې لپاره باید داسې وسیله موجوده وي چې چې ټول خلک یې د ارزښت په توګه ومني. په پیل کې مالګه، څرمن، صدفونه، قیمتي ډبرې او نور توکي د تبادلې لپاره وکارول شول، خو دا ټولې وسیلې د دوام، انتقال او ارزښت د ثبات له پلوه مناسبې نه وې. وروسته سرو زرو، سپینو زرو او مسو دا خای ونیو، ځکه دا فلزات دوامدار وو، په اسانۍ سره وېشل کېدل او خلکو ورته ارزښت ورکاوه.

تاریخپوهان باور لري چې منظمې سکې شاوخوا اوومه مخزېرديزه پېړۍ کې د لیدیا په لرغوني دولت کې ووهل شوې. وروسته دغه نظام د فارس، یونان او روم تر واکمنیو ورسېد او په لنډ وخت کې د نړۍ د سوداګرۍ مهمه برخه وګرځېد. له همدې ځایه د سکې مفهوم د اقتصادي اړتیا تر څنګ د سیاسي واک او دولتي اعتبار نښه هم شوه.

د سکې پر مخ د واکمن نوم، نښان او مهر دا پیغام ورکاوه چې دولت د دې فلزي ټوټې ارزښت تضمینوي. همدغه تضمین د خلکو باور پیاوړی کړ. په حقیقت کې د سکې اصلي ارزښت یوازې په فلز کې نه و، بلکې د هغې تر شا په ولاړ سیاسي او حقوقي اعتبار کې و. همدا اصل وروسته د ټولو پولي نظامونو بنسټ شو.

اسلامي تمدن د سکو په تاریخ کې مهم بدلون رامنځته کړ. د اسلامي دولت په لومړیو کلونو کې د فارس او روم سکې کاربدې، خو د اموي خلافت پر مهال خلیفه عبدالملک بن مروان خپلواک اسلامي پولي نظام رامنځته کړ. اسلامي دینار او درهم د وزن، خالصوالي او کیفیت له مخې منظم معیارونه پیدا کړل او په لنډ وخت کې د نړیوالې سوداګرۍ معتبر اسعار وګرځېدل. له اندلس څخه تر مرکزي اسیا او له شمالي افریقا څخه تر هند پورې سوداګرو اسلامي سکې په ډاډ سره کارولې شول، خو دا ټولې سیلې د اسلامي سکو یوه مهمه ځانګړنه دا وه چې وزن او خالصوالی یې دقیق کنترولېده. دا نظم د بازار باور زیات کړ او د سوداګرۍ د پراختیا لپاره یې مناسب چاپېریال برابر کړ. د همدې باور له امله اسلامي بازارونه د نړۍ له فعالو سوداګریزو مرکزونو څخه شول او نړیوال کاروانونه په ډاډه زړه د همدې اسعارو په وسیله راکړه ورکړه کوله.

سکې د اقتصادي ارزښت تر څنګ تاریخي ارزښت هم لري. هره سکه د خپل وخت د دولت، اقتصاد، صنعت او هنر استازیتوب کوي. د یوې لرغونې سکې له لیکنې، وزن، فلز او ډیزاین څخه مورخان د هغه وخت د واکمنی، اقتصادي حالت، سوداګریزو اړیکو او فرهنګي ځانګړنو په اړه مهم معلومات ترلاسه کوي. له همدې امله سکې د تاریخ د خاموشو اسنادو په توګه هم ارزښت لري.

د نړیوالې سوداګرۍ له پراخېدو سره د فلزي سکو محدودیتونه څرګند شول. د لویو راکړو ورکړو لپاره د سرو او سپینو زرو انتقال ستونزمن و. همدا اړتیا د کاغذي اسعارو د رامنځته کېدو لامل شوه. په لومړیو کې خلکو د کاغذي پیسو په منلو کې احتیاط کاوه، ځکه کاغذ په خپله ذاتي ارزښت نه درلود. ورو ورو چې دولتونو د پیسو ضمانت وکړ او مرکزي بانکونه رامنځته شول، باور هم ورسره پیاوړی شو. همدلته یو مهم اقتصادي اصل څرګندېږي: د پیسو ارزښت تل د خلکو له باور سره تړلی دی. که خلک باور ولري چې یوه پیسه د توکو او خدمتونو . . . ۶مخ

د سپیڅلي پیغمبر ریښتیني عاشقان

ضیاء الحق «حسان»

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ملګرتیا لپاره الله تعالی صحابه کرام غوره کړل. په دوی کې الله تعالی د دې ملګرتیا لوړ استعداد ایښی وه. نبي کریم صلی الله علیه وسلم دوی ته ان له ځان هم محبوب و. د نبي کریم صلی الله علیه وسلم داسې عاشقان وو، چې ساری یې نه لیدل کیږي. کله به چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه ځای ته د کوم کار لپاره دعوت شو، دوی به یې په وړاندې خپل ټول کارونه پرېښول او همغه کار ورته تر هر څه لومړیتوب لره. د نبي کریم صلی الله داسې اطاعت یې کاوه چې ساری یې نه لیدل کیږي. کله به چې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم جدا شول، د خپګان احساس به یې کاوه، دوی به ویل: کله چې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، ځانګړی کیفیت وي، اخرت راته یادیږي، چې له ده بیل شو، بیا داسې نه وي، هسې نه منافق شوي وو. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یې دا حال وړاندې کړ، هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: دلته مو چې کوم حال دی، که په دې حال پاته شی، نو له تاسو سره به ملایکې مصافحه (سترې مه شي) وکړي. علامه منظور احمد رحمه الله په خپل رساله چې په اردو لیکل شوي، (اسلام اور موجود مسلمان قوم) کې په دې اړه عجیبې نکتې ذکر کړې، هغه وایي: د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین یو ځانګړی خاص صفت چې د دوی په ټول جماعت کې عام و، هغه چې مونږ یې له ایمان نه وروسته د زندګي روح ګڼو، هغه دا چې له الله تعالی او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت د هر شي پرتله زیات وه. له محبت نه دلته مراد خالي عقلي اعتراف، یا محض اعتقادي او عملي تسلیمي نه ده، لکه څنګه چې له حقیقت نه ناخبرو د ډېرو دا خیال دی، بلکې هغه (عشق او محبت) چې یو معلوم حقیقت دی او څوک چې رینبتونی محب وي هغه یې محبوب کوي. عاشقی چیست بگو بنده جانان بودن.

په هر حال د صحابه کرامو رضوان الله علیهم له الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره همدا محبت و، له الله تعالی سره د محبت په هکله قرآنکریم شاهد دی چې: وَالَّذِينَ ءَامَنُوٓا أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ. (سورة البقره:۱۶۵) یعني د مؤمنانو تر ټولو زیات محبت له الله تعالی سره دی. له علي رضي الله عنه څخه چا وپوښتل: ستاسو له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره څومره محبت و؟ ده وفرمایل: په الله قسم رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته له خپلو ځانونو، خپلو اولادونو، خپلو مورګانو او په سخته تنده کې له یخو اوبو نه هم زیات محبوب و. (شفا). رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د صحابه کرامو رضوان الله علیهم د عشق او محبت کومه اندازه وه؟ د صلحې حدیبې په دوران کې چې د قریشو سفیر (عروة بن مسعود) کوم منظر ولید او بیا هغه لاړ د مکې کفارو په مجلس کې یې بیان کړ چې تر اوسه پورې بخاري او د حدیثو په نور کتابونو کې محفوظ دی، هغه وویل: اې زما د قوم خلکو! ما د لویو لویو پاچاهانونو دربارونه لیدلي، د قیصر، کسرا او نجاشي دربارونو منظر زما سترګو لیدلی دی، ما نه دي لیدلي چې د کوم پاچا رعیت له خپل پاچا سره داسې د عظمت معامله وکړي لکه څنګه چې د محمد صلی الله علیه وسلم ملګري (رضوان الله علیهم اجمعین) له هغه سره د عظمت معامله کوي. هغه چې کله لاړې توک کوي فدایان یې لاړې په لاس کې اخلي او په خپلو مخونو او بدن باندې یې مني، چې د کوم کار امر وکړي هر یو له بل نه د مخکې کېدو کوښښ کوي او سرته یې رسوي. کله چې اودس کوي، د هغه پتنګان د اودسه اوبه په لاسونو کې را اخلي او په دې کې یې یو بل سره تمبه ټیل وي، چې کله خبرې کوي د دوی اوازونه انتهایي ورو کیږي، د احترام او وقار له امله د دوی سترګې ښکته وي د هغه په طرف ګوري هم نه. (صحیح البخاري). دا کوم حال چې بیان کړی شو دا د څو خاصو کسانو نه وه، بلکې د ټول جماعت حال دی، دا روایت هم د کوم دوست او معتقد سړي نه دی، بلکې د دښمنانو د سفیر او نماینده دی چې هغه د خپلو خلکو په وړاندې بیان کړی دی. له دې څخه اندازه کېداشي چې د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین د عشق حال څه وه.؟ په حقیقت کې همداشی و چې د صحابه کرامو رضوان الله علیهم ټوله زندګي یې له اول نه تر آخره بدله کړه، له عشق او محبت نه علاوه په بل هیڅ شي کې دومره قوت نشته.

عشق کی اِیک جَست
نے طے کر دیا قصّہ تمام
اس زمین و آسماں کو بے کراں
سمجھا تھا میں

عصر دیجیتال و ضرورت سواد رسانه ای

رحمت الله رحمانی

تحـولات شـگفت آور فنـاوری اطلاعـات و ارتباطـات در دهـه های اخیـر، جهان را وارد مرحلـه ای تازه از زندگی انسـانی کرده اسـت که از آن با عنوان «عصـر دیجیتال» یاد می‌شـود. امروزه اینترنـت، تلفن‌های هوشـمند، شـبکه‌های اجتماعـی و رسـانه هـای آنلاین بـه بخش جدایـی ناپذیر زندگی روز مره مردم تبدیل شـده است. میلیون هـا نفر هـر روز برای دریافـت اخبار، آموزش، ارتبـاط، تجارت و سـرگرمی از ایـن ابزارهـا اسـتفاده می‌کنند. این دگرگونی، فرصت های بی‌شـماری برای رشـد علمی، فرهنگی و اقتصادی فراهم کرده اسـت، اما هم زمـان چالش‌های تـازه ای نیز بـه همـراه آورده که بدون برخورداری از سواد رسانه ای ، مدیریت آنها دشـوار خواهد بود. سواد رسانه ای تنها بـه معنای توانایی اسـتفاده از تلفن همـراه، کامپیوتر یـا اینترنت نیسـت، بلکـه مجموعه ای از دانـش، مهارت و نگرش اسـت که به افـراد کمک می‌کند پیام‌های رسـانه ای را با دقـت تحلیل کننـد، صحـت اطلاعـات را ارزیابی نمایند، اهـداف تولید کننـدگان محتوا را بشناسـند و بـا مسـئولیت پذیری از رسانه‌ها استفاده کنند. فردی که از سواد رسـانه ای برخوردار است که هر خبر یا مطلبی را بدون بررسـی نمیپذیرد و پیش از نشـر یا باور کردن آن، منابع و شواهد را مـورد ارزیابی قرار می‌دهد. یکی از مهـم ترین ویژگی‌های عصـر دیجیتال، سـرعت بسـیار بالای تولید، انتشـار و انتقال اطلاعات اسـت. در گذشـته ها، به دلیل محدود بـودن امکانات چاپ و نشـر، اگر کتابی تألیف و منتشر می‌شد، تنها کسـانی کـه در رأس قـدرت یا از امکانـات مالی برخـوردار بودند، به آن دسترسـی پیدا میکردند و بخش بزرگی از جامعـه از دانـش و اطلاعات آن بی بهره میماند. اما با پیشـرفت چشـمگیر فناوری هـای ارتباطی و گسـترش ابزار های نشـر، به ویژه ظهور اینترنت، شیوه دسترسـی بـه اطلاعات دگرگون شـد؛ به‌گونه ای که امروزه از این دوره با عنوان «عصر انفجار اطلاعات» یاد می‌شـود. در عصر حاضر، یـک خبر، تصویری یا ویدئوی می‌تواند تنهـا در چند دقیقه به میلیـون ها نفر در نقـاط مختلف جهان برسـد. این ویژگی، هرچند دسترسـی بـه اطلاعـات را آسـان تر و سـریع تر ساخته اسـت، اما زمینه انتشـار اخبار نادرسـت، شـایعات، اطلاعات گمراه کننـده و محتـوای جعلی را نیـز فراهم کرده است. در بسیاری از موارد، انتشار یک خبـر تأیید نشـده می‌تواند موجب نگرانی عمومی، خدشـه دار شدن اعتبار اشـخاص، ایجاد اختلافـات اجتماعی و حتی بروز خسـارت های اقتصادی و مالی شود. از این رو، سواد رسانه ای به شـهروندان می‌آموزد که پیش از پذیرش یا بازنشـر هرگونه محتـوا، اعتبار منبع، زمان انتشار، هویت نویسنده و شواهد و مستندات آن را با دقت بررسی و ارزیابی کنند و بعد تایید و نشر کند.

در کشـور مـا رشـد شـبکه هـای اجتماعی نیز اهمیت سـواد رسـانه ای را دو چنـدان کرده اسـت. این شـبکه ها فرصت مناسـبی برای بیـان نظر ها، آمـوزش، تبـادل تجربه و ارتبـاط میان مردم را فراهم کرده اسـت امروزه هر فرد می‌تواند تنهـا در چند دقیقه، درباره یک موضوع بـه ده ها مقاله، گـزارش، فایل صوتـی و تصویری دسترسـی پیدا کند و با مقایسـه و بررسـی منابع مختلف، بـه درک دقیق و واقع بینانه از آن دسـت یابد. اما در کنار ایـن مزایا، خطر هایی نیز شـامل میشـود مانند انتشـار نفرت افکنی، نقـض حریم خصوصی، کلاهبر داری اینترنتـی، اعتیاد به فضای مجازی و قرار گرفتن تحـت تاثیر تبلیغات گمراه کننـده و غیره. کاربـران آگاه میدانند که هـر محتوایی ارزش اعتمـاد ندارد و هر پیـام جذابی قطعـاً حقیقـت را بازتاب نمی‌دهد. از سوی دیگر، پیشرفت هوش مصنوعـی و ابزارهـای تولیـد محتوای دیجیتالـی، تشـخیص تصاویر، صداها و ویدئـو های جعلـی را در برابر واقعی آن دشوارتر کرده است. امروزه میتوان با اسـتفاده از هوش مصنوعی، تصاویری تولیـد کرد کـه در نگاه نخسـت کاملاً واقعی به نظر برسـند. اگر افراد مهارت تشـخیص چنین محتواهایی را نداشـته باشـند، ممکن اسـت به راحتی فریب بخورنـد و تصمیم‌های نادرسـتی اتخاذ کنند. بنابراین، آموزش سـواد رسانه ای باید همگام با پیشـرفت فناوری توسـعه یابد تا جامعـه بتواند در برابر تهدیدهای آن نیز آمادگی داشـته باشـد. وقتی از سواد رسانه‌ای سـخن می‌گوییم، برخی تصور می‌کنند کـه این مهارت تنها برای خبرنگاران یا متخصصان رسـانه اهمیت دارد؛ در حالی که سواد رسانه‌ای به همه افراد جامعه مربوط می‌شود از متعلیمان و محصـلان گرفته تا کارمندان، تجاران، معلمان، والدین و بزرگ سالان. کودکان و نوجوانـان به دلیل حضور گسـترده در فضای مجازی بیش از دیگران در معرض محتوای نامناسـب، تبلیغـات فریبنده و اخبار نادرسـت قرار دارنـد. خانواده ها و مراکـز آموزشـی باید ضمـن آموزش اسـتفاده صحیـح از تکنالوژی، مهارت تفکـر انتقادی، تحلیـل محتوا و رعایت اخلاق رسـانه ای را نیز به نسـل جوان منتقـل کنند. نظـام آموزشـی نیز نقش مهمی در گسترش سواد رسانه ای دارد. گنجانیـدن این موضـوع در برنامه‌های آموزشی مکاتب و پوهنتون ها، برگزاری کارگاه های آموزشـی، حمایت از رسانه های مسـئول و تقویت فرهنـگ مطالعه و پژوهـش می‌تواند زمینه شـکل‌گیری جامعه ای آگاه و مسـئول را فراهم سازد. رسـانه‌ها نیز باید با رعایت اصول حرفه ای، دقت در انتشـار اخبـار و مقابله با اطلاعات نادرسـت، اعتمـاد عمومی را حفظ کنند. در کنار نهادهای آموزشی و رسـانه ها، خود شهروندان نیز مسئولیت مهمی بر عهده دارند. هر شـخص که از اینترنت اسـتفاده میکند بایـد بداند که انتشـار یک مطلب نادرسـت می‌تواند پیامدهـای گسـترده ای بـرای دیگران داشـته باشـد. احترام به حقوق دیگران، حفظ حریم خصوصـی، رعایت اخلاق در گفتگوهـای آنلاین و خـود داری از اشـتراک گذاری مطالب تایید نشـده، از مهم‌ترین نشـانه های رفتار مسئولانه در فضای مجازی اسـت. امروز قدرت واقعی تنها در دسترسـی بـه اطلاعات خلاصـه نمی‌شـود، بلکـه در توانایی تحلیل، ارزیابی و استفاده درست از آن نهفته اسـت. جامعه ای ما اگر از سواد رسـانه ای بالاتری برخوردار باشد، در برابر شـایعات، تبلیغات گمراه کننده و عملیات روانی آسـیب پذیـری کمتری خواهد داشـت و تصمیم های آگاهانه و مسـئولانه اتخـاذ خواهـد کـرد. ما میتوانیـم از ظرفیت‌های تکنالوژی برای توسـعه علمی، فرهنگـی، اقتصادی و اجتماعی بهره ببریم.

در پایـان می‌تـوان گفـت کـه عصـر دیجیتـال فرصت های زیـادی را برای یادگیری، پیشـرفت و دسترسـی آسان بـه اطلاعـات فراهم کرده اسـت؛ اما استفاده درسـت از این فرصت‌ها بدون سواد رسـانه ای دشوار اسـت. امروزه سـواد رسـانه ای دیگـر یـک مهارت اختیاری نیسـت، بلکه بـه یکی از نیاز های اساسی زندگی در عصر تکنالوژی تبدیل شده اسـت. هرچه مردم ما بیشتر بیاموزند که چگونه اطلاعات درست را از نادرست تشـخیص دهند و با آگاهی از رسـانه‌ها و فضای مجازی اسـتفاده کنند، جامعـه آگاه، مسـئولیت پذیر و توانمند خواهد شـد. چنیـن جامعه‌ای به جـای آنکه فریب اخبار نادرسـت و شـایعات را بخورد، از دانش و آگاهی برای سـاختن آینده ای بهتر بهره خواهد برد.

هرات‌ښاروالی:

د روان کال په لومړۍ ربع کې د ۲۷ پراختیایي پروژو چارې پیل شوې

د هرات ښـاروالی مسوولینو د ۱۴۰۵ مالي کال د لومړۍ ربعې د حسـاب ورکونې په غونډه کې وویل، چـې د څه باندې یو میلیـارد افغانیو په لګښت له پلان شویو ۸۰ پراختیایي پروژو څخه د ۲۷ پروژو چارې پیل شـوې او په همدې موده کې ۳۹۸ میلیونه افغانی عواید راټول کړل شوي دي.

د هرات ښاروال مولوي حمدالله نعماني وویل، چې خلکو ته حساب ورکول د اسلامي نظام له اساسـي اصولو څخه دي. د نومـورې په وینا: راټول کړل شـوي عواید به په شـفاف او متوازن ډول د هرات ښار د پراختیا او ابادۍ په چارو کې ولګول شي.

په ورته وخت کې د هرات ښـاروالی د ښـاري حکومتولی رئیـس مولوي عبدالواحد خیرخواه وویل، چې د لومړۍ ربعې مهمې لاسته راوړنې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظـه الله د پیغامونو خپـرول، د معیاري کذر بندۍ ۹۰ سـلنه پلي کول، د کذر وکیلانو لپاره د روزنیزو سیمیناروتو جوړول، د «ښاروالی ـ ښوونځي» د ځلورو کډو کمښتو رامنځته کول او د سړکونو د ادرس ورکولو پروژې ځارنه وه.

همدارنګه د هرات ښاروالی تخنیکي او مسلکي رئیس انجنیر محمد ایوب سیف‌الجهاد وویل، چـې د ۸۰ پراختیایي پروژو له ډلې د ۲۷ پروژو چارې پیل شـوې، ۲۵ پروژې د تدارکاتو په پراو کې دي او ۱۸ نورې پروژې د سروې او تخنیکي اسنادو د چمتو کولو په مرحله کې دي.

د نومورې پـه وینا، د خمکې لاندې سـړکونو او سـوداګریزو مارکېټونـو جـوړول، اداري او سوداګریزې ودانی، استنادي دېوالونه، د سړکونو روښـانول، د سـړکونو قیر او کانکرېټ کول، د کانالونو جـوړول، د دوو نویـو ناحیو تفصیلي پلانونه، د شنو سـیمو پراختیا، د ښار پاکوالی، د سـړکونو نښـه کول، د بلواروتو رنګول، د ښار ښکلا، د ښاري نظم تأمین او د بیو کنټرول د روان کال له مهمو پروګرامونو څخه دي.

په همدې حال کې د هرات ښـاروالی د عوایدو او محاسبې رئیس قاري عطاالله احمدي وویل، چې د روان کال په لومړۍ ربعه کې د ښـاروالی ټول عواید ۳۹۸ میلیونه افغانیو ته رسېدلي دي.

د نومورې په وینا، دغه عواید د صفایی محصول، د دولتي، اسـتوکنیزو او سـوداګریزو ملکیتونو عواید، د پلاني نقشـو محصـول، د لوایحو او اعلانونو مالیه، ښاري خدمتونه، د صنفي جوازونو محصول، له ګمرک څخه ورودي عواید، ترافیکي محصول، د ښـاروالی ملکیتونو کرایې او نورو قانوني سرچینو څخه راټول کړل شوي دي.

ده زیاتـه کـړې، چـې د روان مالـي کال پـه لومړیـو درېیو میاشـتو کـې د ښـاروالی ټول عـادي او پراختیایـي لګښـتونه ۸۶ میلیونـه افغانی وو.

د سکو تاریخ . . .

د اخیسـتلو ورتیا لري، هغه پیسه خپل ارزښت سـاتي. که دا باور کمزوری شي، حتی د بنکلي ډیزاین او پرمختللي چاپ له امله هم اسـعار نه شي ژغورل کېدای. د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو د انفلاسیون او پولي بحرانونو تاریخ دا حقیقت په خلونو ثابت کړی دی.

مرکـزي بانکونـه د همدې باور د سـاتنې لپاره رامنځته شوي دي. د اسـعارو چاپ، د پیسو د عرضې تنظیم، د انفلاسـیون کنټرول او د بانکي نظام ځارنه هغه دندې دي چې د ملي اسـعارو اعتبار خوندي کـوي. هر څومره چې اقتصادي ثبات، قانوني نظم او مالي شفافیت پیاوړي وي، هماغومره د پیسـو پر وړاندې د خلکو باور هم زیاتېږي.

په معاصره نړۍ کې د پیسـو بڼه بدله شـوې ده. بانکـي کارتونه، برېښـنایي انتقـالات، انلاین تادیـات او ډیجیټلي اسـعار د مالي نظام برخه ګرځېدلي دي. سـره له دې بدلونونو، اساسـي اصل همغـه دی چې زرکونه کالـه وړاندې د لومړنیو سـکو له رامنځته کېدو سـره پیدا شوی و: باور. که د یوه ډیجیټلي حسـاب تر شـا باور موجود نه وي، هغه یوازې یوه شـمېره ده؛ او که باور موجود وي، هماغه شمېره د میلیاردونو ډالرو د راکړې ورکړې وسیله ګرځي.

افغانسـتان هم د سکو او اسـعارو بدایه تاریخ لـري. د یوناني-باختري، کوشـاني، غزنوي، غوري، تیمـوري او نورو دورو سـکې د هېواد د اقتصادي او سیاسـي تاریخ مهم اسناد دي. د دغو سـکو مطالعه د دې خاورې د سوداګریزو لارو، اقتصادي اړیکو او تاریخي بدلونونو په اړه ارزښـتناک معلومات وړاندې کوي. له همدې امله د لرغونو سـکو سـاتنه د تاریخي میراث د سـاتنې مهمه برخه ده. نن هم د هر هېواد ملي اسعار د هغه د اقتصادي ځلواکۍ له مهمو نښو څخه ګڼل کېږي. د ملي اسعارو ثبات د پانګونې، سوداګرۍ او اقتصادي ودې لپاره مهم شرط دی. هغه اقتصاد چې پر خپلو مالي بنسـټونو، قانون او شـفافیت ولاړ وي، د خپلو پیسـو اعتبار هم خوندي ساتلای شي.

د سـکو تاریخ مورِ ته دا مهم درس راکوي چې اقتصـاد یوازې د شـتمنی په تولید نـه پیاوړی کېږي؛ بـاور، صداقت، قانـون او منظم مالي نظام هم د هغه د دوام اساسـي شرطونه دي. هر خل چې دولتونه د خپلو اسـعارو اعتبار ساتلی، بازارونه هم پیاوړي شـوي دي، او هر خل چې باور زیانمن شـوی، اقتصادي سـتونزې ورسره پراخې شوې دي.

سکې او پیسې د انسان د اقتصادي ژوند تر ټولو مهمې وسیلې ګرځېدلې دي، خو د هغوی اصلي خواک په فلز، کاغذ یا ډیجیټلي کود کې نه دی؛ اصلي خواک یې په بـاور کې دی. همدغه باور د بازارونو حرکت تنظیموي، سـوداګري اسـانه کوي، پانګونه هڅوي او اقتصادي ثبات ته لاره هواروي. د سـکو اوږد تاریخ دا حقیقت ثابتوي چې هره پولي وسیله تر هغه وخته ارزښت لري چې د خلکو باور، د دولت اعتبار او د قانون ملاتړ ورسره مل وي. کله چې دا درې واړه عناصر سره یوځای شي، پیسـې د تبادلې له وسیلې څخه د اقتصادي پرمختک، مالي ثبات او تمدني ودې پر مهم بنسټ بدلېږي.

له بهرنیو هېوادونو . . .

چې د پیسو د اخیستلو مرکزونو په هره سیمه کې فعاله کړي تر څو ور سـره د سیمو د پرمختک لامل وګرځي. له دې ډلې اقتصادي شـنونکی محمد عیسی مبارز ویایي: «کوم هېوادوال چې له بهرنیو هېوادونو نه افغانستان ته پیسې رالېږي، د خپلو پیسو پولي ارزښت ور سره ساتل کېږي، بهرنی سـرچینې مو لورېږي، بانکونه او مالي موسسـو ته مالي کتله راسـېږي او دې ته زمینه برابرېږي تـر څو کـن شـمېر هېوادوالو لپاره د مصرف ښه سرچینه ولري.» د نومورې پر وینا: «د پیسـو په رالېږلو سره په کور دننه د ناخالصه تولیدات لورېږي، د زیاتوالي سره یې اقتصادي وده رامنځته کېږي، د خپلو سرچینو په غني کولو سـره د صادراتو او وارداتو په ښه کېدلو سره ور ځینې کار واخلو تر څو د پلور بازارونه پراختیا پیدا کړي. همداشان د پیسو رالېږد سره اقتصادي ثبات پیدا کېږي او د هېوادوالو په ژوند مستقیم اغېز لري.» د مبارز پر خبره: «مونږ اړتیا لرو چې د پیسـو رالېږلو لپاره زمینه برابـره کړو تر څو د هېواد ټولو سیمو ته پیسې راوالېږدول شي، ځکه چې د سیمې او ولایتونو اقتصادي پابنت لپاره اړین سرچینه ګرځي. همدارنګه د پیسو د وښې مرکزونو فعالولو سـره د دولـت په عوایدو کې دېرواليراځي او کاري فرصتونه پیدا کېږي.»

په ورته مهال د اقتصادي چارو یو بل تن کارپوه، عبدالنصیر رښـتیا وایي: «کوم هېوادوال چې بهر کې ژوند کـوي او دوی خپلو کورنیو ته په افغانستان کې پیسـې رالېږي، دا پیسې د هېواد دننه عرضي ذخیره کېږي چې ور سره د افغانیو د پیاوړتیا سبب ګرځي.» د نومورې په خبره: «بهر مېشته افغانان چې افغانستان ته پیسې رالېږي، نو دا د هېواد دننه د پیسو ثبات او ارزښت لامل کېږي، چې ور سـره افغانی وده کوي او کورنۍ اقتصادي کې مثبت بدلونونه رامنځته کېږي.»

بل لور ته بهر مېشـته افغان، عمر زاده وایي: زه په فرانسې کې ژوند کوم او هر میاشت د خپلې کورنۍ د مالي ملاتړ لپاره پیسې لېږم چې ور سره مې د کورنۍ اقتصاد کې مثبت بدلون رامنځته شوی دی او بل دا چې هېواد ته هم ګټه رسوي.

د ده په خبره: که چېرته بهر مېشته افغانان خپلو کورنیو ته منظمې پیسـې ولېـږي، هغوی یې په سـمه لاره وکاروي، نو لرې بـه نه وي چې د هېـواد په اقتصـاد کې به دایمـي او اغېزمن مثبت کامونه واخیستل شـي. همداشان پرې پانګونه وشـي، بیارغونې او نـورو برخو کې ولګول شـي، نو په کم وخت کې به ګڼ شمېر پرمختګونه راشي او بې شمېره کاري فرصتونه برابر شي.

زیارمل هوتک

هرات کې . . .

اکرم نجیبي وایي: د دوی اړوند فابریکه کې د تزئیني او ساختماني ډبرو بېلابېل ډولونه په مختلفو طرحو او اندازو تولید او پروسس کېږي.

هغه د خپلې فابریکـې د تولیداتو د کیفیت په اړه وویل: «زمـوږ محصولات د نړیوالو معیارونـو له مخې پروسـس کېـږي او د کیفیت لـه پلـوه د اروپایـي او امریکایي هېوادونـو له تولیداتو سـره د سـیالي توان لري.»

د نومورې په وینا: له کانونو را ایسـتل شوي ډبرې تر لېږد وروسـته د پرې کولو، صیقل، ډیزاین، پروسس او بسـته‌بندی څو پړاوونه تېـروي، څو کورنیو او بهرنیـو بازارونو ته د وړاندې کولو لپاره چمتو شي.

نجیبـي وویـل، مرمر او تراورتیـن ډبرو ته تقاضـا ډېـره ده. ده زیاتـه کـړه، تراورتین ډېـره د مرمر په پرتله ارزانـه ده، خو بیا هم ساختماني چارو کې له ډېر کارېدونکو ډېرو څخه شمېرل کېږي.

ده زیاته کړه، د محصولاتو د لېږد لګښـت د پېرودونکـو د ځای له مخې توپیر لري، خو د صادراتو برخه کې د لېږد لګښت د دوی پر راکړو ورکړو د پام وړ اغېز نه لري.

لـه بلـې خـوا، د هـرات د تزئینـي ډبرو پلورونکي حاجي عبدالخالق رشید وویل، په وروستیو کلونو کې د افغانستان د پروسس شوو تزئیني او ساختماني ډبرو صادرات، په خانګړې ډول د هـرات تولیدات، د پخوا په پرتله زیات شـوي او بازار یې پراخ شـوی دی. د هغـه په وینـا، په هرات کـې تولید شوي ډبرې د سیمې یو شـمېر هېوادونو ته صادرېږي. په همـدې حال کې، د هرات د ډبرو د پروسـس د فابریکو یوه کارکوونکي محمدرفیـع وایي، د دغـو فابریکو پراختیا خوانانـو تـه د کار مناسـب فرصتونه برابر کړي او لامل شـوي، چې یو شمېر خوانان د بهرنیو هېوادونو پر خای په خپل هېواد کې کار وکړي. ده له پانګه‌والو وغوښـتل، چې په دې برخـه کې پانګونه زیاته کړي، څو لا ډېرو خوانانو ته د کار زمینه برابره شي؛ ځکه د نومـوړي په باور، د ډبرو د صنعت پراختیا د هېواد له اقتصادي ودې سـره مرسته کولی شي.

د ځوانانو د مهارتونو . . .

پـه توګه نړیوالـو بازارونو کـې په انلاین ډول ۱۵۰۰ خوانانو تـه د کار زمینه برابره شوې ده.

دغه راز ۱۹ زره خوانانو ته د فریلانسینګ، کمپیوتـر، ګرافیک ډیزاین، پروګرامینګ او د مبایل او کمپیوتـر د ترمیم په برخو کې زده کړې ورکړل شـوې دي. همدا رنګه، ۴۰ خصوصـي پوهنتونونو تـه په تخفیف سـره شـاوخوا پنځه زره خوانان معرفي شـوي او خوانانـو ته د لا ښـه خدمتونو وړاندې کولو په موخـه؛ له ۳۰ کورنیو او بهرنیو بنسټونو سـره د همکارۍ ناسټې او ټرونونه شوي دي.

د چـارو کارپوهانـو په بـاور؛ خوانان د هرې ټولنې تر ټولو ارزښـتناکه پانګه او د راتلونکي جوړوونکـي دي، چې د خپلې انرژۍ، استعداد، نوښـت او علم پر مټ د ټولنـې په پرمختـګ، اقتصادي ودې او ټولنیز بدلون کې مهم رول لوبولی شـي.

کـه خوانانـو تـه د زده کـړو، کار او پرمختګ مناسـب فرصتونه برابر شي؛ نو کولای شـي هېواد د ابادۍ، پرمختګ او سـوکالی پر لور رهبري کړي. ورته مهال، د خوانانـو فعالـه ونډه د یوې سـالمې، پرمختللـي او پیاوړې ټولنـې د جوړېدو لپـاره ارینه ده؛ له همدې امله، پر خوانانو پانګونـه، د ټولنې پر راتلونکي پانګونه ده. د یادونـې وړ ده، چـې د ملګـرو ملتـو سـازمان پـه ۲۰۱۴ زېږدیـز کال کـې، د «جـولای» ۱۵مـه چـې د چنګاښ میاشـتې لـه ۲۴مې سـره برابـره ده؛ د خوانانو د مهارتونـو نړیواله ورځ نومولې ده، چـې موخـه یـې د وزګارتیـا کچې راټیټـول، د کاري فرصتونـو رامنځته کول او د کار بـازار لپـاره د خوانانـو چمتـو کول دي.

افغان اعلانات

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

موضوع: نشر اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد پروژه تدارک قرطاسیه باب غیر مطبوع!

بدینوسیله به تأسی از اصول تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام ا.ا.ا در نظر دارد، قرارداد پروژه تدارک قرطاسیه باب غیر مطبوع را به شرکت محترم آریا استیشنری لمتید دارنده جواز نمبر (۷۰۵۲-۰۱۰۱) را به قیمت مجموعی مبلغ (۳،۹۱۷،۷۸۰،۱۲) سه میلیون و نه صدو هفده هزارو هفت صدو هشتاد اعشاریه دوازده افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی پنج روز کاری طورکتبی توأم با دلایل آن به مقام محترم لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین واحکام ا.ا.ا واقع شهر نو وفق اصول تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد .

د ملي پرانیستې داوطلبی بلنه

د پروژې نوم : ۲۲ قلمه د چاپ ماشینونو او OMR پرزې برابرول.

NExA/1405/NCB/G-1128

د داوطلبۍ شمیره :

د ازمینو عمومي اداره په شرایطو برابرو ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي چې د دې ادارې د ۲۲ قلمه د چاپ ماشینونو او OMR پرزو د تدارک کولو د داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي، داوطلبان کولای شي د شرطنامې کاپي په وړیا توګه په فلش ډیسک (حافظه) کې د ازموینو عمومي ادارې د تدارکاتو له عمومي مدیریت څخه، چې د کابل بنار د ځلورمې ناحیې، د یفتلي کوڅې، د ستي سنټر شاته، د پخواني کورنیو چارو وزارت د سړک په غاړه موقعیت لري، او د افغانستان د بریښنایي او پرانیستو تدارکاتو سیستم څخه ترلاسه کړي

داوطلبان باید خپل آفرونه د شرطنامې د شرایطو، د تدارکاتو قانون او طرزالعمل سره سم، په مهر او سربسته ډول، د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه د سهار تر ۱۰:۰۰ بجو د ۱۴۰۵/۰۵/۱۰ نېټې پورې د ازموینو عمومي ادارې دریم پوړ، د تدارکاتو عمومي مدیریت ته وسپاري له ټاکلې وخت څخه په ځنډ رسېدلې او یا د انټرنېټ له لارې استول شوي آفرونه د منلو وړ نه دي.

د آفرونو د پرانیستلو غونډه به د ۱۴۰۵/۰۵/۱۰ نېټه، د شنبې په ورځ، د سهار په ۱۰:۰۰ بجو د تدارکاتو عمومي مدیریت په شعبه کې ترسره شي.

همدارنګه ټول داوطلبان مکلف دي چې د آفر د تضمین پر ځای، د آفر د تضمین اظهار نامې فورمه د شرطنامې د نورو اړوندو فورمو ترڅنګ په بشپړه توګه ډکه،لاسلیک او مهر(ټاپه) کړي او دخپل آفر سره یې وړاندې کړي.

۳۶۶۴

د ټرون د اعطاء د پریکړې خبرتیا

تدارکاتو د اصولو له مخې ټولو هیوادوالو ته خبر ورکول کیږي چې د ا.ا.ا ستره محکمه په نظر کې لري د ۱۴۰۵هـ ش مالي کال لپاره د احمد میلاد رومان لمیتد شرکت سره چې د جواز شمیره(۱۴۸۰۳-۱۰۱۰) ده او مرکزي دفتر یې د کابل ولایت مرکز په ۲ ناحیه بهارستان کښې کې موقعیت لري،د (۸۹۷۸۰۰۰)آته میلیونه نهه سوه اوه اتیا زره افغانیو په قیمت سره د سترې محکمې کارکوونکو ته د غرمې ډوډۍ لپاره د (۴)قلمه خوراکي توکو د تدارک قرارداد وکړي.

هر ډول حکمي او حقیقي شخصیتونه چې پدې اړه نیوکه لري د تدارکاتو د اصولو له مخې کولای شي په لیکلي ډول د دلایلو په لرلو سره خپلې نیوکې د دې اعلان د خپریدو له نیټې څخه ترپنځو(۵) تقویمي ورځو پورې د عامې روغتیا څلور لارې ته خیرمه د سترې محکمې د مالي او اداري عمومي ریاست اړوند د تدارکاتو آمریت ته وړاندې کړي.

دا خبرتیا د قرارداد د ترلو په معنی نه ده د پورته ذکر شوې نیټې تر پوره کیدو او نورو قانوني مرحلو تر سرته رسولو پورې د قرارداد عقد نه ترل کیږي.۳۶۵۰

د داوطلبی اعلان

موضوع: د قرقول سرک جغل اچونه او هوارکاري پروژې د قرارداد د داوطلبۍ اعلان.

د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ بنارووالۍ له ټولو وړ او شرایطو پوره کوونکو داوطلبانو ته بلنه ورکوي چې د قرقول سرک جغل اچونه او هوارکاري پروژې کې ګډون وکړي غوښتونکې کولای شي چې د شرطنامې کاپي د (۱۰۰۰) زرو افغانیو په بدل کې تر لاسه کړي او خپل آفرونه د شرطنامې مندرجو شرایطو مطابق په مهر او ټرلې ډول د اعلان له خپریدو وروسته تر (۲۱) تقویمي ورځو پورې د آفر پرانیستې غونډې ته وسپاري .

هغه افرونه چې نا وخته ورسیږي یا د انټرنیټ له لارې وړاندې شي ، د منلو وړ نه دي.

د آفر پرانیستې غونډه به د اعلان له خپریدو (۲۱) ورځې وروسته ، د کابل ولایت مقام په تالار کې ، چې د صدرات څلور لارې کې موقعیت لري تر سره شي ۳۶۴۷

د داوطلبی اعلان

موضوع: د قرقول سرک جغل اچونه او هوارکاري پروژې د قرارداد د داوطلبۍ اعلان.

د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ بنارووالۍ له ټولو وړ او شرایطو پوره کوونکو داوطلبانو ته بلنه ورکوي چې د قرقول سرک جغل اچونه او هوارکاري پروژې کې ګډون وکړي غوښتونکې کولای شي چې د شرطنامې کاپي د (۱۰۰۰) زرو افغانیو په بدل کې تر لاسه کړي او خپل آفرونه د شرطنامې مندرجو شرایطو مطابق په مهر او ټرلې ډول د اعلان له خپریدو وروسته تر (۲۱) تقویمي ورځو پورې د آفر پرانیستې غونډې ته وسپاري .

هغه افرونه چې نا وخته ورسیږي یا د انټرنیټ له لارې وړاندې شي ، د منلو وړ نه دي.

د آفر پرانیستې غونډه به د اعلان له خپریدو (۲۱) ورځې وروسته ، د کابل ولایت مقام په تالار کې ، چې د صدرات څلور لارې کې موقعیت لري تر سره شي ۳۶۴۷

د داوطلبی اعلان

موضوع: د قرقول سرک جغل اچونه او هوارکاري پروژې د قرارداد د داوطلبۍ اعلان.

د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ بنارووالۍ له ټولو وړ او شرایطو پوره کوونکو داوطلبانو ته بلنه ورکوي چې د قرقول سرک جغل اچونه او هوارکاري پروژې کې ګډون وکړي غوښتونکې کولای شي چې د شرطنامې کاپي د (۱۰۰۰) زرو افغانیو په بدل کې تر لاسه کړي او خپل آفرونه د شرطنامې مندرجو شرایطو مطابق په مهر او ټرلې ډول د اعلان له خپریدو وروسته تر (۲۱) تقویمي ورځو پورې د آفر پرانیستې غونډې ته وسپاري .

هغه افرونه چې نا وخته ورسیږي یا د انټرنیټ له لارې وړاندې شي ، د منلو وړ نه دي.

د آفر پرانیستې غونډه به د اعلان له خپریدو (۲۱) ورځې وروسته ، د کابل ولایت مقام په تالار کې ، چې د صدرات څلور لارې کې موقعیت لري تر سره شي ۳۶۴۷

اعلان لیلام

موسسه (موسسه تعلیمی، اجتماعی و صحی (ECHO) در نظر دارد ۱۸۸ قلم اجناس مختلف النوع داغمه خویش را از طریق پروسه لیلام به فروش برساند. اشخاص و شرکت های که خواهش اشتراک در پروسه و خریداری داغمه جات فوق را داشته باشند به تاریخ ۱۴۰۵/۴/۳۱ ساعت ۹ بجه قبل از ظهر به ساحه (سرک عمومی میدان، همجوار هوتل کاخ سفید مجتمع آب بازی عزیزی) مراجعه نمایند، قابل ذکر است که ۱۵ فیصد پول تضمین قبل از شروع داوطلبی نقدا اخذ می گردد.

تاریخ برگزاری لیلام : ۱۴۰۵/۴/۳۱

زمان : ساعت ۹ بجه قبل از ظهر.

محل برگزاری: سرک عمومی میدان ،همجوار هوتل کاخ سفید مجتمع آب بازی عزیزی.

جهت کسب معلومات بیشتر،لطفا با شماره های ذیل در تماس شوید.

تیلیفون: ۰۷۸۸۴۸۱۱۵۵ / ۰۷۸۳۲۶۸۹۲۶

۳۶۳۲

اطلاعیه لیلام

شرکت امارتی مطبعه صکوک و ضرابخانه مقدار ۴۵۰۰۰ کیلو گرام کاغذ تریشه اضافه برش خویش را به تاریخ ۱۴۰/۵/۱۲ از طریق لیلام به فروش میرساند. شرکت ها و یا اشخاص که خواهان خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ متذکره واقع سرای شمالی ناحیه هفدهم در مقر ریاست مطبعه صکوک حاضر گردد و ۱۵ فیصد پول تضمین قبل از شروع داوطلبی نقدا اخذ می گردد.۳۶۴۳

اطلاعیه لیلام

وزارت مالیه به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۱۷ به مقدار(۳۵) بیلر مبلایل سوخته را میخواهد به بلندترین قیمت به نفع امارت اسلامی لیلام نماید، داوطلبان میتوانند به تاریخ مذکور به اکادمی گمرکات حاضر و یا به شماره تلیفون (۰۷۸۰۶۲۵۴۳۸) به تماس شوند، پول تضمین، ۱۵ فیصد قبل از شروع داوطلبی نقداً اخذ میگردد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتاب مقاوله نامه وکالت دفاع نمبر مسلسل ۱۴۰۰/۱۳۶۱ شماره جواز ۵۱۲۰ مربوط محترم جمیل الرحمن مخلص فرزند محمد قدیم که شماره متذکره نیز درج آن میباشد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۳۶۲۰

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز صنفی دکان سلمانی از سال ۱۴۰۴ به اسم محمد ایمل وزیری ولد یاردل وزیری مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۶۲۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۱۳ برچی به اسم محمد روف فرزند غلام محمد مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۵۶۹

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ایروبل گمرکی نمبر ۶۹۷۲-۳۴۵۳- ۵۳۷ مربوطه وزارت محترم دفاع ملی مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۶۳۶

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه قباله عرفی از دفتر رهنمای معاملات هاشمی جایداد واقع ناحیه هفتم شهر کابل به تاریخ ۱۳۸۳/۱۲/۱۵ اخذ شده به اسم نصیر احمد فرزند نور محمد ولدیت یار محمد به تاریخ ۱۴۰۵/۴/۱۱ مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۶۴۲

اطلاعیه مفقودی

یک قعطه جواز دکان واقع ناحیه اول به اسم روح الله فرزند بسم الله مفقودگردیده از اعتبار ساقط است.۳۶۴۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۵ به اسم تیمور شاه فرزند محمد آصف مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۶۱۶

دعوت به داوطلبی

شرکت امارتی انترکانتیننتال از تمامی داوطلبان واجد شرایط اعم از شرکت های امارتی و خصوصی دعوت به‌عمل می آورد تا در پروسه داوطلبی تهیه و تدارک پروژه های ذیل اشتراک نمایند.

شماره	اسم پروژه	شماره داوطلبی	تضمین آفر (2%)	تاریخ آفرگشایی
1	۱۴۷ قلم خوراکه باب	HIK-1405-NCB-01	؋ 112,000	05-05-1405
2	۲۶ قلم میوه تازه	HIK-1405-NCB-05	؋ 44,000	05-5-1405
3	۴۲ قلم ترکاری تازه	HIK-1405-NCB-06	؋ 38,000	05-5-1405
4	۶۶ قلم شوینده باب	HIK-1405-NCB-09	؋ 52,000	05-5-1405
5	۶۵ قلم قرطاسیه باب	HIK-1405-NCB-10	؋ 10,000	05-5-1405

داوطلبان میتواند شرطنامه مربوطه را از آمریت تدارکات شرکت امارتی انترکانتیننتال از طریق حافظه (فلش ممووری) دریافت نموده و آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه، احکام قانون و طرزالعمل تدارکات، به صورت سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۱۴ روز کاری در یافت نماید، مطابق تاریخ های تسلیمی آفر و مبلغ تضمین آفر مندرج در جدول مربوط، به آمریت تدارکات شرکت امارتی هوتل انترکانتیننتال کابل، واقع باغ بالا، کابل - افغانستان، تسلیم نمایند.

جلسات آفرگشایی پروژه های متذکره مطابق تاریخ های درج شده در جدول فوق ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۴۰۵/۰۵/۰۵ در ریاست شرکت امارتی هوتل انترکانتیننتال کابل برگزار میگردد. آفرهای واصله بعد از موعد تعیین شده قابل پذیرش نبوده و رد خواهند گردید.

شخص ارتباطی: نظیف الله حیدر

شماره تماس: ۰۷۸۸۴۴۱۸۱۹ ۰۲۰۲۵۶۲۰۷۲

۳۴۹۸

قزاقستان له افغانستان . . .

دوامداره تأمین، د تولید کچې لوړول او د فلزي صنعت د پراختیا ملاتړ دی.

هغه ټینګار کړی، چې د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو پیاوړتیا به د کانونو او صنعت په برخه کې د دریې واړو هیوادونو ترمنځ اریکې لا پراخې کړي او د سوداګریزو راکړو ورکړو د زیاتوالي لپاره به هم زمینه برابره کړي.د قزاقستان حکومت همداراز پلان لري، چې د روان کال تر پایه د ۱.۷ ټریلیون ټنګو په ارزښت ۲۰۰ نوې پانګیزې پروژې پلې کړي. د چارواکو په وینا، د دغو پروژو پلي کېدل به د صنعتي تولید د زیاتوالي، د کارموندنې د فرصتونو رامنځته کېدو او د هېواد د اقتصادي ودې په چټکتیا کې مهم رول ولوبوي. دوی هیله څرګنده کړې، چې د افغانستان په کډون له سیمه‌ییزو شریکانو سره د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو پراختیا به د معدني سرچینو د اغیزمنې کتې اخیستنې او د متقابلو اقتصادي کتو د پیاوړتیا لامل شي.

له هراته عراق . . .

د جامو تولیدوونکو ټولنې مسؤلینو وایي: د هرات تولیدوونکي د ایران، ترکیې او نورو هېوادونو د معیارونو او طرحو له مخې د جامو د تولید وړتیا لري او اوس خپل تولیدات د بهرنیو نومونو پر خای په کورنیو براندونو نړیوالو بازارونو ته صادروي.

بلخوا، د هرات د صنعت او سوداګرۍ رئیس بشیرمحمد سیرت وایي: پر ورته وارداتي توکو کمرکي تعرفه لوړه شوې او هڅې روانې دي، څو د جامو صنعت لپاره د ارتیا وړ خامو موادو تعرفه راکمه شي، ترڅو د تولیدي کارخونو د ودې او صادراتو د زیاتوالي زمینه لا پراخه شي.

د یادونې وړ ده، چې تر دې وړاندې هم د هرات تولیدي جامو لومړۍ صادراتي جوپه عراق ته لېږدول شوې وه او د دغه ولایت تولیدي کارخونې هڅه کوي چې د نړیوالو معیارونو په رعایتولو سره خپل حضور په سیمه‌ییزو او نړیوالو بازارونو کې لا پراخ کړي.

د اطلاعاتو او فرهنګ . . .

کلنې جګړې، د ولسونو او مجاهدینو له قربانیو او د شهیدانو له یادونو سره اشنا شي.

د میدان وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي حبیب الله مجاهد وویل، چې د دغه موزیم د جوړولو موخه د هغو تاریخي اثارو او په لاس جوړو شویو وسایلو ساتنه ده، چې د اشغال پر وړاندې د مبارزې پر مهال کارول شوي دي. د نومورې په وینا، مجاهد عمومي موزیم په محدودو امکاناتو جوړ شوی او څلور برخې لري، چې لرغوني اثار، نظامي توکي او د مجاهدینو په لاس جوړ شوي وسایل، قلمي نسخې او د شهیدانو اړوند یادګارونه پکې ساتل کېږي.

په اوو ولایتونو . . .

پراختیا صندوق (TDF) د یوولسمې پروژې لـه بودجې جوړېـدو او ترون یې لـه اټومۍ، اتصالاتو او افغان بیسیم مخابراتي شرکتونو سره شوی دی.

د خبرپاڼې له مخې، د یادو ۱۱ سایټونو له ډلې اته به د اټومۍ مخابراتي شرکت له لوري د تخار په بهارک، د سمنګان په خرم او سارباغ، د بغلان په تاله او برفک، د پکتیا په سیدکرم، د پکتیکا په نعمت‌اباد، د خوست په سپیره او د لوګر په ازره ولسوالیو کې جوړ شي.

دغه‌راز، یو مخابراتي سایټ به د افغان بیسیم مخابراتي شرکت له لوري د بغلان په ګذرګاه ولسوالي او دوه نور به د اتصالات مخابراتي شرکت له لوري د تخار په خواجه‌غار او د خوست په تنیو ولسوالیو کې جوړ او کتې اخیستنې ته وسپارل شي.

د یادونې وړ ده، له دې مخکې د ټولیز لاسرسي د لسمې پروژې په چوکاټ کې د هېواد په ښاښلو سیمو کې د ۵۵۰ مخابراتي سایټونو جوړول پلان شوي وو، چې له ډلې یې ۴۰۰ سایټونه کتې اخیستنې ته سپارل شوي او د پاتې نورو د جوړولو چارې روانې دي.

پروان کې د څښاک . . .

سیمه‌ییزو او نړیوالو بازارونو کې لا پراخ کړي.

د اطلاعاتو او فرهنګ . . .

کلنې جګړې، د ولسونو او مجاهدینو له قربانیو او د شهیدانو له یادونو سره اشنا شي.

د میدان وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي حبیب الله مجاهد وویل، چې د دغه موزیم د جوړولو موخه د هغو تاریخي اثارو او په لاس جوړو شویو وسایلو ساتنه ده، چې د اشغال پر وړاندې د مبارزې پر مهال کارول شوي دي. د نومورې په وینا، مجاهد عمومي موزیم په محدودو امکاناتو جوړ شوی او څلور برخې لري، چې لرغوني اثار، نظامي توکي او د مجاهدینو په لاس جوړ شوي وسایل، قلمي نسخې او د شهیدانو اړوند یادګارونه پکې ساتل کېږي.

په اوو ولایتونو . . .

پراختیا صندوق (TDF) د یوولسمې پروژې لـه بودجې جوړېـدو او ترون یې لـه اټومۍ، اتصالاتو او افغان بیسیم مخابراتي شرکتونو سره شوی دی.

د خبرپاڼې له مخې، د یادو ۱۱ سایټونو له ډلې اته به د اټومۍ مخابراتي شرکت له لوري د تخار په بهارک، د سمنګان په خرم او سارباغ، د بغلان په تاله او برفک، د پکتیا په سیدکرم، د پکتیکا په نعمت‌اباد، د خوست په سپیره او د لوګر په ازره ولسوالیو کې جوړ شي.

دغه‌راز، یو مخابراتي سایټ به د افغان بیسیم مخابراتي شرکت له لوري د بغلان په ګذرګاه ولسوالي او دوه نور به د اتصالات مخابراتي شرکت له لوري د تخار په خواجه‌غار او د خوست په تنیو ولسوالیو کې جوړ او کتې اخیستنې ته وسپارل شي.

د یادونې وړ ده، له دې مخکې د ټولیز لاسرسي د لسمې پروژې په چوکاټ کې د هېواد په ښاښلو سیمو کې د ۵۵۰ مخابراتي سایټونو جوړول پلان شوي وو، چې له ډلې یې ۴۰۰ سایټونه کتې اخیستنې ته سپارل شوي او د پاتې نورو د جوړولو چارې روانې دي.

پروان کې د څښاک . . .

اقتصادي شنونکي بیا وایي، د واخان دهلیز فعالېدل به د سوداګریزو توکو د لېږد بهیر اسانه کړي او سوداګرو ته به د نورو ترانزیتي لارو په پرتله سیمه‌ییزو بازارونو ته د چټک او ارزانه لاسرسي زمینه برابره کړي.

اقتصادي شنونکي غلام حیدر تش‌پور وویل: ((واخان یوازې د افغانستان بندر نه دی، بلکې د ازبېکستان، ترکمنستان، ایران، ترکیې او ان د ختیځې اروپا له هېوادونو سره د نښلېدو مهمه لار کنل کېږي.))

تر دې وړاندې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت ویلي وو چې د واخان دهلیز د سړک د جوړولو چارې په دوو برخو کې روانې دي. د یاد وزارت په وینا، د دې پروژې په بشپړېدو سره به افغانستان د واخان دهلیز له لارې له چین سره ونښلول شي او د سوداګرۍ، ترانزیټ او سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ لپاره به نوې زمینه برابره شي.

مولوي عطاء الله . . .

د خپلې ادارې د پروګرامونو په اړه معلومات وړاندې کړي او ویلي یې دي، چې د دې پروژې په لومړي پړاو کې به د ازمایښتي پروګرام په توګه د کابل ولایت په بېلابېلو سیمو کې ۲۰ چکډېمونه جوړ شي، ترڅو د اقلیمي بدلونونو له اغیزو سره د سمون او د اوبو د سرچینو د اغیزمن مدیریت په برخه کې مثبتې پایلې ولري.

نومورې زیاته کړې، چې دغه پروژې به د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په نړدې همغږۍ او همکارۍ پلي کېږي.

همدارنګه د غونډې په پای کې دواړو لوریو هوکړه کړې، چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو دفتر د متخصصینو څخه به یو ګډ تخنیکي ټیم جوړېږي، چې د سروې له پرا‌و څخه تر عملي تطبیق پورې به د پروژې ټولې چارې په ګډه پرمخ وړي.

د کرنې، اوبو لګولو او مالداری په وینا؛ د اقلیمي بدلونونه او د اوبو د سرچینو کمښت د سره به ۲ زره ۴۳۴ کورنۍ د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی ومومي.هغه زیاته کړه، چې له ۱۴ شبکو څخه ۱۲ یې د لمریزې بریښنا پر سیستم سمبالې دي او دوه نورې د چینو له اوبو کټه اخلي.

په دغو پروژو کې د ژورو څاه‌کانو کیندل، د اوبو زېرمو جوړول، کور په کور د نل‌لیکو غځول، د اوبو مېټرونو نصب او د سولري سیستمونو اړوند تاسیسات هم شامل دي.

د سیمې اوسېدونکو د دغو پروژو له بشپړېدو خوښې څرګنده کړه او ویې ویل، چې له دې وروسته به د څښاک پاکو اوبو ته په اسانه لاسرسی ولري او د پخوا په څېر به له ستونزو سره نه مخ کېږي.

د کندز په بند خونه. . .

شامل دي.

ده زیاته کړې، چې د بندخونو د تنظیم چارو د عمومي ریاست له بودجې څخه د دوه میلیونه افغانیو په لګښت پلي کېږي او چارې به یې د شاوخوا یوې میاشت په موده کې بشپړې او کتې اخیستنې ته وسپارل شي.

د یادونې وړ ده، چې دا مهال د کندز بندخونه کې سلګونه بندیان ساتل کېږي او د زده کړو، مسلکي روزنې او نورو اړینو اسانتیاوو زمینه ورته برابره شوې ده.

عالیقدر امیرالمؤمنین. . .

په اړه هر ډول پرېکړه وشي، امنیتي خواکونه یې د بشپړ امنیت ټینګښت ته بشپړ چمتووالی لري.

ده ویلي: «که د دې لارې د پرانیستې په اړه کومه طرحه عملي کېږي، زمونږ امنیتي خواکونه بشپړ چمتو دي، چې امنیت یې تامین کړي او په دې اړه ګاونديو هېوادونو ته هم دا‌ډ ورکوو.»

زمینه برابره ده؛ نو باید تر دې لا ډېر کار وکړي.»د غونډې په پای کې، استاد حبیب الله رفیع د علومو اکادمۍ له مشرتابه څخه منه کړې او ټینګار یې کړی چې خوانان باید د علم او پوهې د ډیوې په روښانه ساتلو کې زیات زیار وباسي او دا ډیوه مړه کېدو ته پرې نږدي.

د لوړو زده کړو . . .

پروسه یې بشپړه شوې ده.

دغه رازد (۱۱۰) میلیونه افغانیو په ارزښت د نورو طبي تجهیزاتو بودیجه هم ورته منظور شوې او ډېر ژر به یې قراردادي پروسه پیل شي. همدارنګه درېیمه برخه د کارکوونکو روزنه او ګمارنه ده چې د سړ کال په تشکیل کې ورته خانکړې پاملرنه شوې ده.

د لوړو زده کړو وزارت محترم وزیر صاحب د یاد مرکز مسؤلینو ته په همدې اړه وویل: «د دغه مرکز لپاره متخصص تخنیکي کسان راپیدا کړئ، که په داخل کې نه وي له بهره یې راوغواړئ او ویې ګمارئ.» او ورته ویې ویل چې د سیمې ملکونو متخصصینو سره مو په دې اړه خبرې هم کړې دي.

د یادونې وړ ده چې د لوړو زده کړو وزارت تر چتر لاندې د سرطاني ناروغیو د تشخیص او درملنې دغه سترمرکز د کابل طبي علومو پوهنتون اړوند په علي اباد تدریسي روغتون کې په دوو پوړوونو کې شوی دی چې دا یې لومړي فاز ده او د دوو نورو فازونو چې د دتجهزاتو او کارکونکو کمارنه ده تر بشپړیدو وروسته به په نږدې وخت کې کتې اخیستنې ته وسپارل شي.

هېره دې نه وي چې په علي اباد تدریسي روغتون کې اوسمهال د سرطاني ناروغیو د واکسین او جراحي څانګې فعالي دي او پورته مرکز به د دغو ناروغیو د شعاع لپاره فعالیت وکړي.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: **انجنیرعُزیر بریالی**
آمر او مسئول مدیر: **محمد قاسم عزام**
مسئول سکرتر: **شېرمحمد نظري**
ډیزاینر: **مایار**
د ویبپاڼې مدیر : **ګل ولي افغانیار**
چاپ پته: مطبعه صنعتی احمد صمدی - چهار راهی صدارت - بلال مارکیت
پته: **اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل**

بریښنایی بڼه
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه

یو ډالر	٦٥.١٥ افـ
یو یورو	٧٤.٥٠ افـ
یو پونډ	٨٥.٢٠ افـ
یو درهم	١٧.٧٤ افـ
زر ریال	٠٣٩.٠٣٨ افـ
زر کلداري	٢٢٦.٢٢٥ افـ
زر کلداري	٧٥٣.٧٤٣ افـ

د هوا حالات

کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی
٠٤:٤٠	٣١°C	٢٩°C	٣٢°C	٤١°C	٤١°C	٣٨°C	٢٩°C	٠٧:٠٨

عالیقدر امیرالمؤمنین د واخان دهلیز د سړک د چارو د ژر بشپړېدو حکم صادر کړی

د بدخشان والي محمداسماعیل غزنوي ویلي، چې عالیقدر امیرالمؤمنین خانګړی حکم صادر کړی، چې د واخان دهلیز د سړک د جوړولو چارې دې ژر تر ژره بشپړې او پروژه دې کتې اخیستې ته وسپارل شي.

د غزنوي په خبره، د واخان دهلیز د سړک پروژه د اسلامي امارت له مهمو لومړیتوبونو څخه ده.

ده ویلي: «دا یوه ستره پروژه ده، خپلې خلک فکر کوي، چې ښایي کارونه یې لا نه وي پیل شوي؛ خو د امیرالمؤمنین له لوري د دې لارې د پروژې د ژر بشپړېدو لپاره خانګړی او عاجل حکم صادر شوی دی.»

بل خوا، د اسلامي امارت د دفاع وزارت لوی درستیز فصیح‌الدین فطرت ویلي، که د واخان دهلیز د سړک د پرانیستې...

لاهم

بهرني لنډ خبرونه

امریکا تازه د ایران څه باندې ۱۳۰ میلیون ډالرو شتمني کنګل کړې

د امریکا د خزانې وزارت د بهرنیو شتمنیو د کنټرول دفتر (OFAC) د ایران له مرکزي بانک سره پر تړلو حسابونو او برېښنایي کڅوړو (کریپټو والټونو) بندیزونه لګولي، چې له املې یې د ایران څه باندې ۱۳۰ میلیون ډالرو په ارزښت ډیجیټلي شتمني کنګل شوې ده.د امریکا د خزانې وزیر سکاټ بیسنټ ویلي، دا اقدام د ایران د هغو مالي شبکو د کډوډولو او کمزوري کولو لپاره شوی، چې واشنګټن یې ناقانونه بولي. د نومورې په وینا، امریکا هڅه کوي د کریپټو اسعارو له لارې د ایران د مالي سرچینو لاسرسی محدود کړي او د بندیزونو د ټینګښت مخه ونیسي.د امریکا د خزانې وزارت ټینګار کړی، چې د ایران حکومت د احتمالي ناقانونه مالي فعالیتونو د تمویل مخنیوي لپاره به د ورته مالي لارو موندلو او بندولو هڅو ته دوام ورکړي.بل خوا، ایران تل د امریکا اقتصادي بندیزونه غیرقانوني بللي او دا تورونه یې رد کړي، چې ګواکې د نړیوالو بندیزونو د ټینګښت لپاره له ناقانونه مالي شبکو او ډیجیټلي شتمنیو څخه کار اخلي.

ایران:

هرمز تنګي کې د امریکا بیا ځلي کلابندي؛ د اسلام اباد هوکړه له منځه تللې

د ایران د بهرنیو چارو وزارت حقوقي مرستیال کاظم غریب‌ابادي ویلي: امریکا د ایران پر وړاندې د سمندري کلابندۍ له پرته پیلولو سره د اسلام‌اباد د هوکړې ټولې ژمنې تر پښو لاندې کړې دي.غریب‌ابادي ویلي: د امریکا وروستي بریدونه هم د دې هوکړې له چوکاټ او بنسټ سره په ټکر کې دي او په وینا یې ایران نور ځان د یادې هوکړې له مخې کومې ژمنتیا ته پابند نه ګڼي.

نومورې زیاته کړې: ((نور داسې کوم یادښت نه دی پاتې، چې پرې خبرې وشي. امریکا د دې هوکړې د له منځه وړلو لپاره تول اړین کامونه پورته کړي، نو هېڅ هېواد باید له ایرانه تمه ونه‌لري، چې د دې هوکړې له مخې خپلو ژمنو ته دوام ورکړي.))

فوټبال نړیوال جام؛ اسپانیا د فرانسې په ماتولو پایلوبې ته ووته

د ۲۰۲۶ کال د فوټبال نړیوال جام سیالیو نیمه‌پایلوبه کې اسپانیا فرانسې ته ماته ورکړه او په دې سره یې پایلوبې ته لار پیدا کړه. د راپورونو له مخې، د یاد جام د نیمه‌پایلوبې لومړۍ لوبه د اسپانیا او فرانسې فوټبال ملي لوبډلو ترمنځ د امریکا متحده ایالتونو په دالاس لوبغالي کې ترسره شوه.په یاده لوبه کې د اسپانیا لوبډلې ۲ پر صفر فرانسې ته ماته ورکړه او د دغو سیالیو پایلوبې ته یې لار پیدا کړه.په دې لوبه کې د اسپانیا لوبډلې لپاره لومړی ګول د لوبې په ۲۲مه دقیقه کې مایکل اویارزابال د پنالټي له لارې ترلاسه کړ او د اسپانیا بل لوبغاړي پیډرو پورو د لوبې په ۵۸مه دقیقه کې دویم ګول وکړ.

د افغانستان علومو اکاډمۍ د استاد حبیب الله رفیع د ښه راغلاست غونډه ترسره کړه

د افغانستان د علومو اکاډمي
اکادمی علوم افغانستان
د هېواد د نومیالي ادیب، محقق، نقاد او مؤرخ
استاد حبیب الله رفیع د درناوي غونډه

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو ژبې په نړیوال مرکز کې، د هېواد نوموتي (لیکوال، شاعر او ادیب استاد حبیب الله رفیع ته ښه راغلاست) تر سرلیک لاندې علمي - کلتوري غونډه ترسره شوه.

د غونډې په پیل کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د طبیعي ـ تخنیکي علومو مرستیال مفتي امیرجان ثاقب، ویلي دي: ((د افغانستان اسلامي امارت د خپلو لیکوالانو، ادیبانو او پوهانو قدرداني کوي او هغه کاذب تبلیغات چې بهرنیو رسنیو د اسلامي امارت پر خلاف کول؛ هغه ټول رد شوي دي ځکه اوس خلکو ته روښانه شوې ، چې په افغانستان . . .

۷مخ

مولوي عطاءالله عمري په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو دفتر له مشرې سره لیدنه کړې

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر، مولوي عطاءالله عمري، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو دفتر «یوناواو پي‌اس» له مشرې سره لیدنه کړې. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وایي، چې په دې لیدنه کې دواړو لوریو په هېواد کې د اقلیمي بدلونونو سره د سمون او د اوبو د سرچینو د مدیریت اړوندو پروژو د پلي کېدو پر څرنګوالي خبرې وکړې.

مولوي عطاءالله عمري په دې لیدنه کې د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ له لوري د اوبو د مدیریت او د اقلیمي بدلونونو د منفي اغیزو د کمولو لپاره شویو هڅو ته په اشارې سره ټینګار کړی، چې د اقلیمي بدلونونو سره د سمون پروژې باید د افغانستان اسلامي امارت د پالیسۍ او د هېواد د شته ارتیاوو له مخې پلي شي.

نوموړي همداراز د کرنې وزارت او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو دفتر ترمنځ د کډې همکارۍ او د پروژو د معیاري پلي کېدو غوښتنه کړې، څو د اقلیمي بدلونونو له امله د رامنځته شوې اوبو کمښت په راکمولو کې اغیزناک رول ولوبوي.

په همدې حال کې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر مشرې . . .

۷مخ

اقتصادي کارپوهان:

له بهرنیو هېوادونو د پیسو رالېږد د افغانستان اقتصادي ثبات پیاوړی کوي

اقتصادي کارپوهان وایي چې بهر مېشته افغانان، چې کومې پیسې افغانستان کې خپلو کورنیو ته رالېږي، په هېواد کې اقتصادي ثبات ته زمینه برابروي. همدارنګه د صادراتو او وارداتو په ښه والي کې اړین رول تر سره کوي. دوی وایي: د پیسو په رالېږلو سره د هېواد دننه د پیسو ثبات او ارزښت لامل کېږي، چې ور سره افغاني وده کوي او کورني اقتصادي کې مثبت بدلونونه رامنځته کېږي. بهر مېشته افغانان بیا وایي چې د هېواد دننه د کورنیو ملاتړ لپاره د پیسو په لېږلو سره د هېواد په اقتصاد کې دایمي او اغیزمن کامونه اخیستل کېږي او زیاتوي چې د پانګونې

سره یې د کنړ شمېر هېوادوالو ستونزې حل کېږي.

اقتصادي کارپوهان وایي، بهر مېشته افغانان چې د خپلو کورنیو مالي ملاتړ د پیسو په رالېږلو سره کوي، کټه یې ټول هېواد ته دی، ځکه چې افغاني ور سره با ثباته کېږي او ارزښت پیدا کوي. دوی له دولت څخه غواړي . . .

۶مخ

هرات کې تولیدپدونکې تزئیني ډبرې د سیمې او ګاونډیو هېوادونو ته صادرېږي

د هرات د ډبرو صنعت برخې مسؤلین وایي، چې د دغه ولایت په صنعتي ښارګوټي کې د تزئیني ډبرو د تولید او پروسس ۴۵ فابریکې فعالې دي؛ د دې ترڅنګ چې تولیدات یې د کورنۍ بازار ارتیا پوره کوي، د سیمې او ګاونډیو هېوادونو ته هم صادرېږي. د هرات د صنایعو او کانونو خوني مشر محمدناصر امین رسنیو ته ویلي، اوس‌مهال د هرات په صنعتي ښارګوټي کې د تزئیني ډبرو د تولید او پروسس برخه کې ۴۵ فابریکې فعالیت لري. ده زیاته کړه، چې په دغه ولایت کې د ډبرو صنعت د خان‌پسیاینې مرحلې ته رسېدلی او تولیدات یې د دې ترڅنګ چې د کورنۍ بازار ارتیا پوره کوي، ترکمنستان، ایران، یو شمېر عربي هېوادونو او د سیمې نورو بازارونو ته هم صادرېږي. د نوموړي په خبره، د ډبرو د استخراج، تولید او پروسس برخو کې میلیونونه ډالر پانګونه شوې، چې له دې سره د صنعت د پراختیا ترڅنګ د صادراتو د زیاتېدو او کاري فرصتونو د رامنځته کېدو زمینه هم برابره شوې ده.

د هرات ښار د تزئیني ډبرو د تولید یوې فابریکې مشر . . .

۶مخ

د ځوانانو د مهارتونو نړیواله ورځ؛ په نړیوالو بازارونو کې سلګونه ځوانانو ته د کار زمینه برابره شوې ده

د افغانستان اسلامي امارت د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مسؤلین وایي، چې د دغه وزارت د هڅو په پایله کې؛ سلګونه ځوانانو ته په نړیوالو بازارونو کې د کار زمینه برابره شوې ده.

خبیب غفران، د چهارشنبې په ورځ د ځوانانو د مهارتونو نړیوالې ورځې په مناسبت، رسنیو ته په یو غړیز پیغام کې ویلي، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په ټپلاټپلو برخو کې د ځوانانو د وړتیا لوړولو او د هغوی فکري اصلاح لپاره اغیزمن پروګرامونه ترسره کړي او د وزارت راتلونکي پروګرامونه دا دي، چې وکولی شي د هېواد په دننه او بهر کې ځوانانو ته کاري فرصتونه رامنځته کړي او په ټپلاټپلو برخو کې د هغوی مهارتونه پیاوړي کړي.

د غفران د معلوماتو له مخې؛ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لوري، د «فریلانسر» . . .

۶مخ